
د کندهار اتل
ناول
Ketabton.com
لیکوال: نیک محمد بارک موسوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب: د کندهار اتل

لیکوال: نیک محمد بارک "موسوي"

کمپوز او ډیزاین: نیک محمد بارک "موسوي"

کال: ۱۳۹۹ه ش

پته: کندهار/افغانستان

موبایل او واټسف: 0702110371

ایمل ادرس: naikbarak786@gmail.com

**خبرتیا:** د کاپی رایټ د قانون مطابق هیڅوک دا حق نلری چی د لیکوال ناولونه د هغه د اجازی پرته په شخصي ډول استفاده کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نظر

بسم الله الرحمن الرحیم

د لیکوال صاحب نیک محمد بارک هر ناول زه او ملګري یی وایو او خپل د مسافری غمونه په لیری کوو او زه هم د بارک صاحب د ناولونو د مینوالو څخه یم بارک صاحب راڅخه غوښتنه کړی وه چی باید دده پر دی ناول یو کتنه وکم او یو نظر پر ورکم نو می د تیرو څو ورځو راهیسی د بارک صاحب همدا ناول لوستی او هغه ځایونه می ور اصلاح کړه چی څه ناڅه نیمګړتیاوی به یی لرلی د بارک صاحب هدف په دی سره وو چی تر څو یی ناول نور هم خوندور سی او لا نور زرګونه مینوال پیدا کړی د بارک صاحب یی کور ودان چی خپلی لیکنی او ناولونه په شخصی لګښت خپلو مینوالو ته په وړیا ډول د ویب سایټونو او نورو میډیاوو له لاری وړاندی کوی د بارک صاحب لیکني همداسی د خدایه جاری غواړو او د عمر د برکت دعایی کوو.

په درنښت

ډاکټر علی احمد/ سویډن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب په اړه

نحمدو و نصلی علی رسول الکریم اما بعد فاعوذ باالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم،

د کندهار اتل ناول مې څه وخت مخکې را پیل کړی وو چې د الله په مرسته مې دا دی بشپړ کې غوښتل مې چې دا ناول هم د نورو ناولونو پڅیر خوندور او زړه راکښونکی جوړ کم خو د څه ستونزو لکبله مې ونسوای کولای چې همداسې وکم.

نوموړی ناول یو رومانتیکه او مینه ناکه کیسه لری څو کلونه وړاندې مې پر مجازی نړی د یوې امریکایۍ سره مخ سوم چې تر معرفت وروسته یې راته وویل چې د افغانستان د کوم ځای یې ورته ومې ویل چې د کندهار یم ډیره خوشحاله سوه او راته یې وویل: د میرویس او احمدشاه له ښاره یې؟ ما ویل هو بیا یې راته وویل چې څو کلونه وړاندې په کندهار کې د دوی پر یوی قریبۍ چې په کندهار کې یې دنده اجرا کول بم چادونه کړی وه بیا یو کندهار ځوان هغه تر خپلو ملګرو رسولی وه هغوی د کندهاریانو ډیر منندویه وه، نو ماته پر دی خبره د یو ناول لیکلو فکر را پیدا سو نو دا وو چې شروع مې په وکړه په نوموړی ناول کې صرف یو رومانتیکه کیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دکندهار د ځوانانو غیرت او وفاداری ښودل سویده ددی ناول لیکلو څخه زما هدف سیاسی نه وو او نه دی هم څوک دا کوښښ کوی چی سیاسی مخ ورکړی په دی ناول کی هیچا ته بی عزتی نه ده سوی وسلوال په ناول کی صرف په کیسه کی یو منفی لوبونکی رول لری زما د خپل وطن کندهار او کندهاري ورونو سره د مینی او ویاړ په خاطر می دا ناول ولیکی هیله ده چی څوک تری سیاسی استفاده ونه کړی،

په درنښت

نیک محمد بارک موسوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

دا ناول دې ټولو هغو اتلانو ته ډالۍ وي چې د
افغانستان لپاره يې رښتينې خدمت کړی وي .....

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کندهار اتل

په امریکا کی د بوکر یا د کال د غوره کتاب نړیوال مراسمو غونډه وه د ټولو هیوادو څخه لوی لوی لیکوالان او لوړ پوړی چارواکي راغلي وه دغونډی ویاند وویل: .....دوستانو د ۲۰۱۹ کال د غوره کتاب جایزه "د کندهار اتل" د کتاب و لیکوالۍ اغلۍ لیزا سمیت ته ورکول کیږی، ټولو ګډونوالو چکچکی وکړی او بیا ویاند وویل: اغلۍ لیزا سمیت چي د امریکا متحده ایالاتو په پوځ کي یی یو کال په افغانستان کی دنده اجرا کړیده په همدی کتاب کی یی د خپل یو کلن ژوند خاطری راجمعه کړیدی چی یو ښکلی ناول یی ځنی جوړ کړیدی نوموړی ناول په درو میاشتو کی د نړی زیات لوستونکی کتاب ونومول سو چي د نړی زیاتو خلکو رانیوی او ویلوستی نوموړی ناول تر دی مهاله یوازی په امریکا کی دوه سوه زره ټوکه چاپ سویدی چي دا یو جالبه خبر دی نو ځکه نړیوال د بوکر اداری نوموړی ناول د ۲۰۱۹کال غوره ناول وبلی او د بوکر نړیوالی جایزی وړونکی یی وبلی دا ناول چي یو غمجنه رومانتیکه کیسه لری د اغلۍ لیزا سمیت لخوا د پنځو میاشتو په موده کی لیکل سویدی نو نوری خبری نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیروم راځو اغلې لیزا سمیت ته بلنه ورکوو چې د سټیج مختته راسی او خپله د بوکر جایزه تر لاسه کړی،

لیزا ته د بوکر جایزه د څو لوړ پوړو چارواکو په لاسو ورکول سوه او ټولو هغې ته مبارکی وویل لیزا سمیت په ظاهره ډیره خوشحاله وه او بیا ویاند وویل: او اوس هم دوستانو د غونډې د قوانینو سره سم به اغلې لیزا سمیت خپل دا ناول موږ ته په خپله وایی او موږ به ورته غوږ یو ستاسو د چکچکی په بدرګه اغلې لیزا سمیت؟

لیزا د مائک طرف ته ورغلل او ویویل:دوستانو ددی جایزی اصلي حقدار ددی کتاب اتل دی دا کتاب افسانوی نه دی او نه هم خیالی جوړ سویدی ددی ناول کیسه رښتینی ده، موږ اوریدلی دی چی ملائکی شتون لری خو لیدلای یی نسو خو زه په ډاډ درته وایم چی ددی ناول اتل یو ملائکه وه داسی یو ملائکه چی ما ته یی نوی ژوند راکی ما ته یی زما والدین راکړل ماته یی بیرته زما کور او هیواد راکړل،

د اغلې لیزا تر سترګو اوښکې راغلی او بیا یی خپل د ناول کتاب خلاص کړ او ویویل: موږ ډیر غریبان وو یو ورور می وو هغه موږ پریښوولو او د کوره ولاړی پلار می دولتی دنده کول چي د تقاوت وخت یی پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

سو نو پر کور کښینستی او د پلار د تقاوت په پیسو زموږ ګزاره نه کیدل ځکه چی هغه ډیرې لږ وی کور مو هم په کرایه نیولی وو او د څو میاشتو کرایه یی راپسی پاته وه زه مجبوره سوم چي پوهنتون می پریږدم او وظیفه ځانته پیدا کم همداسی می وکړه ما پوهنتون پریښوی او د وظیفی په لټه کی سوم هره ورځ به په وظیفی پسی ګرځیدم خو هیچا هم وظیفه رانه کړه ځکه چی ما د پوهنتون اسناد نه درلودل زه د کار په لټه کی ډیره ستړۍ سوم هلته د کورنۍ بوج او غم هم راباندۍ پروت وو ډیره پریشانه وم نیږدی به وای چی ځان مۍ مړ کړی وای خو مور او پلار به می سترګو ته ودریدل چي دوی به چا ته پاته سی یوه ورځ می یوی همصنفۍ کریسټینا ته وویل چي ماته یو وظیفه را پیدا کړه زه ډیره پریشانه یم او کار ته ډیره اړتیا لرم،

کریسټینا وویل: ایا په پوځ کی کار کوی؟

لیزا وویل: څنګه کار؟

کریسټینا وویل: زما ورور په پوځ کی دی زه به هغه ته ستا په اړه ووایم ګوندی یو کار درته پیدا کی،

لیزا وویل: سمده ته ورته همدا اوس زنګ ووهه ورته ووایه ځکه چی زه وظیفی ته ډیر ژر اړتیا لرم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریسټینا خپل ورور ته زنګ ووهلی تر ټولو کیسو وروسته د کریسټینا ورور کریسټینا ته وویل چی سمده سبا دی حربی پوهنتون ته راسی زما دفتر ته،

سبا سهار د وخته لیزا حربی پوهنتون ته ورغلل او د کریسټینا د ورور سره یی ولیدل خپل ټوله کیسه یی ورته وکړه،

د کریسټینا ورور ورته وویل: لیزا اوس خو زموږ سره داسی خاصه وظیفه نسته که عسکری کولای سی خو زه به دا وظیفه درکم،

لیزا وویل: معاش یی څومره دی؟

د کریسټینا ورور وویل: د میاشتی ۳۰۰$ ډالره،

لیزا وویل: دا خو بیخی لږ دی په دی خو زموږ د دوو اوونیو ګزاره هم نه سی کیدلای یو څه یی رالوړ که ته خو پوهیږی چی زه ډیر مشکلات لرم هیله کوم،

د کریسټینا ورور وویل: لیزا دا معاش زه نه درکوم حکومت یی درکوی که په ما کیدلای ما هتماً در لوړول،

لیزا وویل: وروره دا پیسی ډیری کمی دی زموږ ژوند ډیر سخت دی او موږ ډیرو پیسو ته اړتیا لرو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کریستینا ورور وویل: لیزا زه نور څه نه سم کولای بخښنه غواړم ...خو هو که غواړی چي نورو هیوادو ته د پوځیانو سره ولاړه سی نو هغه معاش بیا زیات دی،

لیزا په خواشینی سره د کریستینا ورور ته وکتل او ویویل: ماته د مرګ نوری طریقی هم رامعلومی دی خو دا د ترهګرو مرکزو ته نه ځم هغوی خو سم وحشیان دی انسانیت پیژنی لا نه او ته وایی چی داسی یو ځای ته ولاړه سم؟

د کریستینا ورور وویل: لیزا ما صرف همدومره مرسته در سره کولای سوای نور بخښنه غواړم،

لیزا د کریستینا د ورور څخه ولاړل او خپل کورته راغلل ګوری چی پوروړي یی د کور په مخکی ولاړ دی او پلار ته یی اخطارونه ورکوی چی زمونږ پیسی راکی لیزا ژر ورله او د هغو څخه یی خپل پلار لیری کی او هغو ته یی وویل چی زه ستاسو پیسی درکوم خو لږ وخت راکی هغو هم ور سره ومنل کله چی لیزا او پلار یی کورته ولاړل د پوروړو لخوا لیزا د خپل پلار بی عزته کولو ډیره پریشانه کړه لیزا خپلی خونی ته ننوته او ډیر یی وژړل تر ډیری ژړا وروسته یی د کریستینا ورور ته تلیفون وکی او ورته یی وویل چی زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اماده یم چی نورو هیوادو ته ولاړه سم هیله ده زما لپاره مهم څه اماده کړی د کریستینا ورور وویل: سمده اغلې لیزا زه ستا نوم د پوځیانو په لیست کی ورکوم تاسو سبا تمرین ته راسی،

لیزا په ژړغونی اواز وویل: سمده زه درځم،

وروسته لیزا د اوښکو څخه مخ پریولی او مور او پلار ته ورغلل او ورته یی وویل: بابا ما فیصله کړیده چی زه په پوځیانو کی دنده کوم او غواړم چی د پوځیانو سره نورو اسلامی هیوادو ته ولاړه سم،

پلار یی وویل: لوری! دا څه وایی ایا ته د ترهګرو مرکزو ته ځی هغوی یوازی مرګ پیژني زه تاته اجازه نه درکوم،

لیزا وویل: بابا زه بله لار نه لرم زه باید دا وظیفه وکم په دی وظیفی سره به په یو څو میاشتو کی ټول پورونه ادا سی او بیرته راځم،

پلار یی وویل: لوری زه نه غواړم چی تا په لوی لاس د مرګ و خولی ته ور واستوم ته دا هره ورځ خبرونه نه وینی چی هغوی څنګه د وحشیانو پځیر سره جنګیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی خپل مسلمانان ژوندی نه پرېږدی نو تا به چیری ژوندی پرېږدی،

لیزا وویل: بابا د یو څو میاشتو خبره ده او هلته زموږ ډیر پوځیان نور هم سته،

پلار یی وویل: خو لورې......

لیزا وویل: هیله کوم بابا د یو څو میاشتو خبره ده،

پلار یی زړه نا زړه وویل: سمده لورې ځنګه چې ستا خوښه وی،

کله چی سبا سو نو لیزا د کریستینا ورور ته ورغلل او هغه ورته وویل: لیزا نور هیوادونو کی ضرورت نه وو د پوځیانو نو ستا نوم می د افغانستان ته تلونکو پوځیانو په لیست کی ورکړ د هغوی زیات وخت کیږی چی تمرین کوی هله ژر ورسه تمرین ور سره شروع که،

لیزا هم ځان اماده کی او د نورو پوځیانو سره یی تمرین شروع کی او د دوو ورځو په جریان کی تمرین خلاص سو خو لیزا د نښی ویشتل لا نه وه زده کړی علان وسو چی په راتلونکو درو ورځو کی ستاسو پرواز دی افغانستان ته امادګی ونیسی، لیزا او نورو پوځیانو امادګې نیولی کله چی دریمه ورځ سوه نو د ټولو پوځیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

والدین او میرمنی هوایی ډګر ته راغلی وو او د خپلو خپلوانو سره یې خدای په امانی کوه لیزا هم د خپل مور او پلار سره خدای په امانی وکی او ټول طیاری ته پورته سول او د افغانستان پر لور رهی سول، لیزا په طیاره کی د یوی بلې پوځې ښځې انجلینا څخه پوښتنه وکړه: دا افغانستان ډیر لیری دی که لږ؟

انجیلینا موسکۍ سوه او ویویل: نه پوهیږم ځکه زما هم دا لومړی وار دی چی د خپل هیواد څخه سفر کوم،

لیزا وویل: ایا تاسو کومه مجبوره لرل چی بل هیواد مو انتخاب کی؟

انجلینا سوړ اسویلی وکښی او ویویل:هیڅوک د ښه حاله دومره خطرناک ځای ته نه ځی زما خاوند زه پریښوولم او ولاړی د اولادو د ډوډی د مکتب او پوهنتون د پیسو لپاره مجبوره سوم چی دا وظیفه وکم،

انجیلینا د لیزا څخه پوښتنه وکړه: تاسو ولی بل هیواد انتخاب کړ ایا تاسو هم کومه مجبوری لرل؟

لیزا خپله ټوله کیسه ورته وکړه او بیا یې وویل: ایا تاسو د افغانستان د خلکو په اړه کوم معلومات لری چی هغه څنګه خلک دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجیلینا وویل: نه زیات معلومات نه لرم خو داسی می اوریدلی دی چی هغوی د ښځو ډیر احترام کوی،

لیزا موسکۍ سوه او ویویل: خو ما بیا داسی اوریدلی دی چی هغوی ښځه دباندی کار کولو ته نه پریږدی او په هغوی یی توری کخوړی اغوستی وی ډیر ظلم ور سره کوی،

انجیلینا وویل: هو بلکل همداسی ده خو هغوی ښځې ته دومره احترام لری لکه عام خلک چی یی یوی ملکې او شهزادګۍ ته لری نو ځکه هغوی یی په کور کی ارامی او کراری کښینولی وی او نارینه یی خدمت کوی داسی نه لکه زموږ خاوندان او ورونه چی موږ یی د اوږو بار یو چی خوښه یی سی خپل مو کی او چی خوښه یی سی پریږدی مو او ولاړ سی را څخه او دا توری کخوړی وای هغوی ځکه کوی چی هغوی د خطره څخه ساتی،

لیزا وویل: انجیلینا هغوی ډیر وحشیان خلک دی شاید تاسو یی په اړه معلومات ونه لری ایا تا نه دی لیدلی په میډیاوو کی چی هغوی څنګه وحشی کارونه کوی هغوی ترهګر دی ټوله.....،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیزا او انجیلینا مجلس همداسی جریان درلودی چی څو ورځی وروسته د افغانستان کابل ته را ورسیدل کله چي لیزا د طیاری څخه راکښته کیدل نو د افغانستان هوا ډیره ښه پر ولګیده او انجیلینا ته یی وویل: واو انجیلینا څومره ښکلی او ارامونکی هوا ده،

انجیلینا هم موسکۍ سوه او ویویل: رښتیا هم،

ټولو پوځیانو د کابل په امریکایی اډه کی د خپلو مشرانو سره روغبړ وکی څه دقیقې وروسته لوی امریکایی جنډرال راغلی او دوی ته یی ښه راغلاست ووایه او د نورو خبرو تر څنګ یی نوي پوځیانو ته وویل: پوځیانو تاسو به د دوو ورځو لپاره همدلته هوسایی او ارام کوی په دوهمه ورځ موږ د افغانستان د ولایاتو نومونه ستاسو د نومونو سره اچوو او د هر چا نوم چی د هر ولایت سره راوختی هغه به د وظیفی لپاره هغه ولایت ته ځی د اوس لپاره همدومره بس ده ورسه ارام وکی تاسو به ستړی سوی یاست،

ټول پوځیان خپلو کوټو ته ولاړل چی استراحت وکړی لیزا چی خپلی کوټی ته ورسیدل نو لومړی یی خپل مور او پلار ته تلیفون وکړ او ورته یی وویل چی موږ پخیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

را ورسیدو افغانستان ته مور او پلار یی ډیر خوشحاله سول او ورته یی وویل چی پر ځان دې پام کوه،

ټولو پوځیانو استراحت وکی او دوهمه ورځ د پوځیانو او ولایاتو نوملړ علان سو ټولو پوځیانو خپل نومان کتل چي کوم ولایت ته راوتلی دی، لیزا هم خپل په نوم پسی کتل نو ویلیدل چی د کندهار ولایت ته انتخاب سویده، وروسته لیزا پر یو چوکی کښینستل او په فکرو کی غرقه سوه چي دا کندهار به ځنګه ځای وی ځنګه خلک به یی وی لیزا په همدی فکرو کی وه چي بغلته یی یو بل پوځی کښینستی او لیزا ته یی سلام ووایه وروسته یی د لیزا څخه پوښتنه وکړه چی ته کوم ولایت ته انتخاب سوی یی،

لیزا وویل: کندهار ولایت ته،

پوځی وویل: وا ډیر ښه کندهار خو ډیر ښکلی ځای دی د کندهار انار او انګور نړیوال نوم لری.

لیزا وویل: ایا تاسو مخکی هلته وظیفه کړیده؟

پوځی وویل: هو زه ډیر وخت مخکی هلته وم ډیره ارامه ارامی وه خو اوس نه یم پری خبر.

لیزا وویل: خلک یی ځنګه خلک دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځی وویل: ښه خلک یی دی خو یو څه توند مزاجه دی خو د ښځو ډیر عزت کوی اصل کی خو ټول افغانان د ښځو ډیر عزت کوی خو کندهاریان یی بیا خاص دی په دوی کی او دا خوی او عادت دوی ته د خپلو نیکونو او مشرانو څخه ور پاته دی ما اوریدلی دی چی د دوی یو مشر وو چی دوی ورته حاجی میرویس خان نیکه ویل دا هغه کس وو چی لومړی د آزادی بېرغ ده پورته کی او خپل ښار یی د ظالمانو ایرانیانو د شره څخه خلاص کی نوموړی چي کله پر خپل دوښمن حمله کول نو ټینګار به یی پر دی کاوه چي ښځې، ماشومان او په سپین بېیرو به کار نه لری او هغو ته به هیڅ نه وایست یو وخت داسی پیښ سوه چي خبر ورته راغلي چی څو کسانو پر څلورو ښځو جنسی تیری کړیدی نو میرویس خان نیکه ورته امر وکی چی ټول اعدام کي نوموړی ته وویل سوه چی په هغو کسانو کی یو ستا د عمه زوی دی ایا هغه پریږدو نوموړی هغه کس ته چی دا خبره یی ورته وکړه ډیر پری غوسه سو او هغه ته یی وویل چی اول هغه اعدام کړی هغو همداسی وکړه اوس ښځو ته احترام دوی ته د خپل همدی مشرانو لخوا په میراث کي پاته دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیزا څه ونه ویل او ددی پوځی خبری یی صرف نظر وګرځولی او زړه ته یی نه لویدل چی هغوي دي همداسی وی، وروسته لوی جنډرال امر وکی چی پوځیانو د سبا لپاره خپلو ولایتو ته د تلو امادګی ونیسی ټول پوځیان اماده سول او سبا ته د تلو لپاره یی ځانونه چمتو کړه کله چي سبا سهار سو نو ټولو پوځیانو ځانونه تیار کړه او خپلو طیارو ته پورته سول او د ولایتو پر لور رهی سول تر څو ساعتونه وروسته لیزا او نور پوځیان کندهار ته ورسیدل او د کندهار په هوایی ډګر کی یی طیاره کښینول هلته د لیزا د ډګر پر نوم سترګی ولګیدی او یو پوځی ته یی وویل: ایا ددی ډګر نوم احمدشاه بابا نړیوال هوایی ډګر دی؟

پوځی وویل: هو همدا دی،

لیزا وویل: دا څوک دی؟

پوځی وویل: دا یو نړیوال امپراتور او د افغانستان باچا وو چی دی د کندهار اوسیدونکی وو ډیر طاقتور او د ښو اخلاقو خاوند وو نو ځکه پر خلکو ډیر ګران دی او دا هوایی ډګر یی د هغه په نامه کړیدی او کندهار ته احمدشاهی ښار هم وایی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته ټول پوځیان خپلو کوټو ته د ارام لپاره ولاړل کله چې سبا سو نو ټول پوځیان په پوځی تمریناتو بوخت سول او تمرینات یی کول چې وروسته علان وسو چې ډلګۍ مشر تاسو ته خبری کوی نو ټول پوځیان په کتارو کی ودریدل او ډلګۍ مشر راغلی پوځیانو ته یی وویل: پوځیانو تاسو به هر سهار خپل پوځی تمرینات کوی کله چې مو تمرینات ښه قوی سول نو بیا وروسته موږ تاسو پر ډلو ویشو او هره ډله به په اوونۍ کی دری ورځې د کندهار و ولسوالیو ته د ګزمې لپاره ځي،

ټولو پوځیانو وویل: سمه ده صاحبه امر دی پر ځای کیږ ی،

لیزا به هر سهار د پوځیانو سره تمرین کوی خو زیات څه یی ځکه نه زده کیدل چې دې په خپل هیواد کی صرف دوی ورځې تمرین کړی وو ښان ویشتل یی نه وه زده، علان وسو چې ډلې جوړی سویدی هره ډله دی په خپل وخت د ګزمی لپاره وځی کله چي لیزا د ډلو نوملړ ته ورغلل نو ویلیدل چي په راتلونکی اوونۍ کی ددی د ګزمی نوبت دی چې باید د ګزمی لپاره د کندهار و ولسوالیو ته د نورو پوځیانو سره ولاړه سی، لیزا ډیره پریشانه وه او د کورنۍ فکر ور سره وو او په خپل مور

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پلار پسی به یی ډیر ژړل ټوله شپه به ویښه وه او د مور او پلار عکس ته به یی کتل ډیر یی ژوند سخت سوی وو ځکه په لومړی ځل او هغه هم د غریبی له سببه له خپل هیواده مسافره سوی وه، همدا اوونۍ همداسی تیره سوه د همدی جریانی اوونۍ په دریو ورځو کی باید لیزا او نوره ډله یی د ګزمی لپاره د کندهار و ولسوالیو ته ولاړ سی، ډلګې مشر د لیزا و ډلی ته وویل: پوځیانو لکه څنګه چی ستاسو زیاترو په کندهار کی لومړی وار دی نو تاسو به زموږ اډی ته نیږدی د کندهار یو ولسوالی ته ولاړ سی چی دامان ولسوالی نومیږی او تاسو به هلته همدا اوونۍ ګزمه کوی نو لیزا او ډلی یی تیاری ونیوی او لومړی ګزمه یی په سبا کی وه کله چی سهار سو نو لیزا او ملګرو یی ځانونه تیار کړه او په خپلو پوځی ټانګونو کی کښینستل او د کندهار د هوایی ډګر د امریکایی اډۍ څخه ووتل او د کندهار دامان ولسوالی ته رهی سول موسم د دوبی وو هر خوا ښکلی او ښایسته معلومیدل چی د انسان روح پکښی تازه کیده، لیزا د ټانګ چلونکی سره مخ ته په ټانګ کی ناسته وه ټانګ چلونکی لیزا ته وویل: لیزا ستا خو دا لومړی ځل دی چی افغانستان او کندهار ته راځی خو زما دلته کندهار کي دری کاله کیږی چی دنده کوم د کندهار هره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسوالی ډیره ښه راته معلومیږی او ته پوهیږی لیزا چی د کندهار هره ولسوالی یو یو خاصیت او صفت لری ددی ولسوالۍ یعنی د دامان ولسوالی خاصیت دا دی چی ددی ځای ختکي یو نړیوال شهرت لری دومره خوږوالی لری چی د بورې او عسلو خوږوالی ورته عاجزه دی او ددی ولسوالۍ غنم هم بی اندازې زیات غټ او خوندور دی.......،

لیزا د خپلي کورنۍ په غم کی وه او هیڅ یی نه ویل بیا د ټانګ چلونکی وویل: لیزا زه پوهیږم چی ته په کورنۍ پسی خوابدی یې زه هم چی کله اول وار رالم زه هم همداسی ځو ورځی خوابدی وم خو اوس دلته عادت سوم او ګرسره می زړه نه غواړی لکه دا چی زما هیواد یی،

د ګرمی پر مهال به لیزا سړکونو او پلونو ته کتل چی ډیر ویجاړ سوی وه،

لیزا هغه ته ډیر بد بد وکتل او ورته یی وویل: ددی ترهګرو هیواد ته ته خپل هیواد وایی ایا زموږ هیواد همداسی دی دا ترهګر د هیچا پروا هم نه لری ته نه وینی چي خپل سړکونه او پولونه یی څنګه وران او خراب کړیدی او ټیکه دارانو یی څنګه سست او د دوو ورځو کار کړیدی دوی چی د خپل هیواد او ورونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرابولو پسی دی نو ما او تاته خو دوښمن وایی نو ما او تا به یی څنګه خپل سو پر همدی سرکونو او پولونو یی زموږ د دولت څخه په میلیون هاوه ډالر اخیستیدی خو د زرو ډالرو کار یی هم نه دی کړی په داسی حال کی چی دا ددوی خپل هیواد هم دی په همدی هیواد کی پیدا سویدی را لوی سویدی او مړه کیږی به خو دوی داسی چلند ور سره کوی لکه د دوښمن د ملک سره دا انسانان د پیسو غلامان دی،

ټانګ چلونکی ورته وویل: لیزا ټول کندهاریان او افغانان داسی نه دی په دوی کی ډیر وطنپرسته خلک سته چی ددی وطن لپاره یی ځانونه قربان کړیدی چي ښه مثالونه یی د دوی څو مشران ډاکټر نجیب الله او محمد داود خان دی چی ددی هیواد لپاره یی ځانونه قربان کړل خو ددی هیواد سره یی خیانت نه وکی،

لیزا وویل: هغه متل دی نه دی اوریدلی چی وایی جزء د کل تابع دی دا دوه دری خو نا حسابه دی او بیا هغه خو پخوانی مشران وه ایا دوی اوس یو داسی مشر لری چي دوی او دی هیواد ته دی یی ربښتینی خدمت کړی وی ټول د پیسو لپاره کار کوی خپل ورور هم د پیسو لپاره درته وژنی د ترهګرو همداسی کارونه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیزا او ډلې یې خپله لومړی ګزمه پای ته ورسول او بیرته د خپلې اډې په طرف رهی سول لیزا ډیره ستړې سوی وه ځکه ټوله ورځ یی په ګزمی تیره کړی وه کله چې پر کټ پریوتل نو سترګی یی پټی سوی چی څو شیبی وروسته بیرته ولاړه سوه او نور خوب نه ورتلی نو ځکه یی د خوب راوستلو ګولۍ وخوړلی خو بیا هم خوب نه ورتله، سهار سو او د دوی دوهمه ګزمه سبا ته وه لیزا خپل تمرین شروع کی ټوله ورځ یی تمرین وکړ، کله چی سبا سو نو لیزا او ډلې یی بیا د ګزمۍ لپاره اماده سول او ټول بیا د دامان ولسوالۍ پر طرف رهی سول، لیزا به پر لاری هر کندهاری ته ډیر بد بد کتل او هغو ته په کتو به زیاته بیریدل کله چې به کندهاری کوچنیانو دوی لیدل نو د دوی ټانګونه به یی په ډبرو ویشتل او دوی ته به یی زیات بد بد کتل د لیزا د ټانګ چلونکی ټانګ ودروی او یو کځوړه یی چی د چاکلیټو او د بازیو د شیانو ډکه وه د ځان سره واخیستل او کندهاری کوچنیانو ته یی لاس و ښوروی خو هغوی وبیریدل او ځنی لیری سوه پوځی خپل لاس په کځوړه ننباسی او څو چاکلیټ او د بازیو شیان یی هغو ته ورښکاره کړه او لاس یی ورته وښوروی چی راسی کوچنیانو چی کله چاکلیټ ولیدل نو ډیر خوشحاله سوه او څو کوچنیان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیرې په ځیهره د پوځی و طرف ته کرار کرار رهی سول کله چی پوځی هغو ته چاکلیټ او د بازیو شیان ورکړل نو هغه نورو ټولو کوچنیانو ډېری وغورځولی او ددی پوځی پر طرف یی ور وځغستل پوځی ټولو کوچنیانو ته شیان ورکړه او هغوی ډیر خوشحاله سوه او د پوځیانو سره یی بازی او لوبی شروع کړی وروسته پوځی بیرته خپل ټانګ ته راغلی او لیزا هغه ته وویل: دا خو زموږ د دوښمنانو کوچنیان دی تاسو ولی دوی ته دا شیان ورکړل تا نه ولیدل چی هغوی موږ په ډبرو ویشتلو؟

پوځی موسکۍ سو او ویویل: لیزا دا کوچنیان دی خپل او دوښمن نه پیژنی دوی ته داسی ویل سویدی چی موږ باید په ډبرو وولی د دوی په دماغونو کی دا ور اچول سویدی چی موږ ډیر بد خلک یو خو که موږ د دوی د ډبرو په جواب کی هم یو بد عکس العمل وکو نو دوی به همداسی په دی دوښمنی کی لویان سی او زموږ سره به یی تر پایه دوښمنی وی زموږ زیاترو پوځیانو د دوی سره همداسی بد عکس العملونه وکړل چي په پایله کی یی هیڅ هم لاسته نه ورغلل خو دوښمنی یی نوره هم تازه کړه خو که موږ دوی ته مینه او محبت ور وښویو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دوی به بیا هیڅکله هم داسی ونه کړی تا نه ولیدل چی هغه کوچنیان څومره بیریدلی وه او څومره کرکه یی پر زړه او مخانو وه موږ ته خو چی ما کله هغوی ته چاکلیټ او د بازیو شیان ورکړه نو هغوی ډیر زیات خوشحاله سوه او بیره یی لیری سوه او داسی بازی او چال چلند یی راسره کوی لکه موږ چی د دوی خپل د کورنۍ غړي او خپل اکاګان یی یو،

وروسته چی به کله کوچنیانو دوی لیدل نو زیاتی خوشحالی به یی کولی او ناری او شپیلکیان به یی وهل هغه پوځی به ډیر موسکۍ ورته کیده خو د لیزا په زړه کی دوی اوس هم هغه وحشیان او ترهګر وه،

د لیزا او ډلې یی د یوی اوونۍ ګزمه د کندهار و دامان ولسوالۍ ته پای ته ورسیده او نور نو د دوی تمرینونه سخت سوه ځکه دوی به په راتلونکو اوونیو کی د کندهار نورو لیری منطیقو ته ځئ تر سختو تمرینو وروسته دوی د کندهار نورو ولسوالیو ته ګزمې شروع کړی لیزا به لیدل چی ډیری پوځیان به د ګزمو پر مهال سخت ټپیان سوی یا به هم مړه سوي وه په دی سره به د لیزا کرکه او نفرط نور هم ډیر سو افغانانو ته، د لیزا او ډلې یی ګزمې خلاصی سوی وی نو ځکه دوی خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

میاشتی په اډه کی و اوسیدل او دباندی ونه وتل ځکه چی د دوی دومره زیاته وخت کیدی هم نه چی جنګو ته وتلی وای،

لیزا د څلورو میاشتو په جریان کی خپل د کورنۍ ټول پورونه ادا کړل،

په کندهار کی موسم د منی وو او د څو میاشتو وروسته د لیزا او ډلې یی یو ځل بیا ګزمې شروع سوی لومړي اوونۍ یی ګزمه وکړل او د کندهار سره څه ناڅه بلد سوی وه راتلونکی اوونۍ بیا رخصت وه او په دریمه اوونۍ کی یی بیا ګزمه د دوی په منځ کی سره ویل کیده چی راتلونکی اوونۍ کی ګزمه د کندهار څو نا امنو ولسوالیو ته ده دوی ډیر وارخطا وه څو ورځې تیری سوی یو ورځ لیزا پر کټ بیده وه چي ډیر بد خوب یی ولیدی چي پکښی سخت جنګ وو شاوخوا مړی پراته وه یو مخ پوټی نفر راځی او د لیزا پر سر توپنچه نیسی او لیزا وژنی لیزا په دی وخت یو دم د خوبه را ولاړه سوه او لویه لویه ساه یی ایستل او زیاته بیریدلی وه وروسته یی اوبه وڅیښلی ساعت ته چی یی وکتل نیمه شپه وه نور خوب هم نه ورتلی او پر ځای همداسی بیریدلی ناسته وه، کله چی سهار سو نو بیا یی په خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تمریناتو شروع وکړه او په دوهمه ورځ یی د اډی ښځه زیات لیری یوې صحرا ته ګزمه وه ویل کیده چی ډیر سخت او نا امنه ځای دی نو ځکه دوی ډیر وارخطا وه، د شنبی ورځ سوه او د دوی د ګزمی لومړی ورځ وه دی خطرناکی سیمی ته، دوی ځان سره تیار کړ او د اډی ښځه ووتل کله چی نوموړی سیمی ته ننوتل نو دوی ډیر وارخطا وه ټوله ورځ وګرځیدل د ټولو پوځیانو مخان د ډیری سترړیا ښځه تک تور سوه او د ټولو شونډان وچ کلک سوی وه لومړی ورځ د ګزمی دا همداسی تیره سوی او دوی بیرته خپل ځای ته راستانه سول.

ټول ډیر ستړی سوی وو ځکه چی ټوله ورځ یی په بیره کی ګزمه کړی وه لیزا غوښتل چی خوب وکړی خو د ډیر تشویش ښځه یی خوب هم نسوای کولای نو ځکه په نیمه شپه کی دباندی ووتل چی هوا خوری وکړی ډلګې مشر په اډه کی ګرځیدی چی لیزا یی ولیدل او د هغی وخواته ورغلی او د هغی سترړیا او پریشانې یی محسوس کړه او ویویل: اغلۍ لیزا زه دی وینم چی ته ډیره پریشانه یی او په دی هم پوهیږم چی ته دلته د یوی مجبوری لکبله راغلۍ یی غواړی چی بیرته کورته ولاړه سی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیزا وویل: ښاغلی هغه مجبوری چی ما درلوده هغه مجبوری می اوس حل سویده او غواړم چی بیرته کورته ولاړه سم خو ما می د حکومت سره د پوره یو کال قرار داد کړیدی چی یو کال می پوره نه سی زه نسم کولای چي دا دنده پرېږدم،

ډلګي مشر وویل: لیزا زه در سره کمک کولای سم تاسو دا دوی اوونۍ لا دلته پاته سی په دریمه اوونۍ کی به دی کورته واستوم ایا اوس خوشحاله یی؟

لیزا موسکۍ سوه او ډیره خوشحاله سوه او د دلګي مشر څخه یی مننه وکړه،

سبا ته بیا تمرین شروع سو او د راتلونکی ورځی لپاره امادګی نیول کیده ځکه چی راتلونکی ورځ بیا د لیزا د ډلی د ګزمی واری وو دوی بیا ډیر وارخطا وه ځکه چی بیا همهغه خطرناک ځای ته تلل، کله چی دا ورځ تیره سوه او د ګزمی ورځ راغلل نو د لیزا ډله اماده سوه او د ګزمی لپاره رهی سول بیا د تیری ورځی پخیر تړوله ورځ ګزمه وه او لیزا او نور پوځیان وګرځیدل د تیری ورځی پخیر بیا ډیر ستړی سوه او بیرته د ماښام و خواته خپل اډی ته روان سوه، لیزا ډیره ستړی سوی وه خو په عینی حال کی ډیره خوشحاله هم وه ځکه چی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلونکو دوو اوونیو کی بیرته خپل هیواد او کورته تله خپلو والدینو ته یی زنګ ووهی او هغو ته یی وویل چی زه په راتلونکو دوو اوونیو کی بیرته کورته درځم هغوی هم ډیر خوشحاله سوه لیزا د خوب لپاره د خوب راوستلو ګولۍ وخوړلی خو تر یو ساعت خوب وروسته بیرته راکښینستل او کورته د تلو فکرونه یی کول، سهار سو د مرغانو شور او ږغونه وه ټول پوځیان په خپلو تمریناتو اخته سول سبا ته د لیزا او ډلی یی د ګزمی اخیری ورځ وه نور نو د لیزا هم ګزمی خلاصی سوی وی او کورته د تلو لپاره زیاته خوشحاله وه هر پوځی ته به یی ویل چی زه په راتلونکو دوو اوونیو کی بیرته خپل هیواد او کورته ځم هغو به هم مبارکی ورکولی او لیزا به د هغو څخه مننه کول،

د لیزا و خپل کورته ډیره تلوسه او تلواری وه او زیاته خوشحاله وه همدا ورځ هم تیره سوه او پوځیانو د اخیری ګزمی لپاره ځانونه تیار کړل او د اډی څخه رهی سول د ګزمی په سیمه کی ګرځیدل سهار ګاه وه شاوخوا دښته وه او لیری لیری کورونه وه او درختی ولاړی وی لیزا او ملګرې یی په دوو ټانګونو کی ګرځیدل او د دوی ټانګ مخته روان وو شاته ور پسی بل ټانګ روان وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیزا د ټانګ چلونکی سره په خبرو اخته وه او هغه ته یی د خپلی کورنۍ کیسی کولی څو شیبی وروسته یو لوی درب وسو لیزا او ملګرو چی یی شاته وکتل نو د دوی د شا پر ټانګ بم چاودلی وو او اورونه پر ګرځیدل دوی غوښتل چی ودریږی خو د دوی پر ټانګ هم بم پټاوو سو او هر څه ګډوډ سوه او پر دواړو ټانګونو اورونه ګرځیدل دوښمن کمین نیولی وو کله چی یی دواړه ټانګونه په بمونو والوزول نو د دوښمنانو مشر یو بل ملګری ته امر وکړ او ورته یی وویل: ورسه ته یی وګوره چی ټول مړه سویدی که ژوندی دی احتیاط کوه،

هغه وویل: سمده مشره،

د لیزا او د ملګرو پر ټانګونو یی د اور لمبی ګرځیدلی او دواړه ټانګونه سرچپه اوښتی وه ټول مړه سوی وه خو لیزا څو شیبی وروسته سترګی خلاصی کړی ګوری چی ډیره سخته ټپی سوې وه او نور ټول ملګری یی مړه سوی وه لیزا چی کله د ټانګ دباندی وکتل نو ویلیدل چی یو دوښمن د ټانګ و طرف ته را روان دی او توپک یی په لاس کی دی مخ یی پټ کړی وو د لیزا ټول بدن ټپي سوی وو او وینی تری بهیدلی خو په ډیری سختی سره یی د ټانګ څخه ځان و ایستی او د ټانګ یو طرف

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته چې دوښمنانو نه لیدل پټه سوه، هغه ولسوال چې پر ټانګونو ګرځېدی دواړو ټانګونو ته ور نیږدې سو په اول ټانګ کې یې ولیدل چې ټول مړه سوي وه بیا یې خپلو ملګرو ته اشاره وکړه چې دا د یوه ټانګ دا ټول مړه سویدی بیا د لیزا د ټانګ وخواته ورغلی او ویلیدل چې دلته هم ټول مړه سویدی خو وروسته یې ولیدل چې د یوه پوځی ځای خالي دی نو پر ټانګ شاوخوا راګرځیدی چې وګوري چې دا بل نفر چیری دی کله چې د لیزا وخواته راغلی نورو دوښمنانو نه لیدی کله چې لیزا ته نیږدې ورتلی نو لیزا هغه لومړی په یو ډبره وویشتی او بیا یې تر غاړی ونیوی او په چاکو یې غاړه ور پری کړه هغه نورو دوښمنانو فکر وکړ چې نور نو خیر و خیریت دی نو ځکه د ټانګونو پر طرف رهی سول لیزا هغوی ولیدل چې د ټانګونو پر طرف را روان دی نو ژر یې د هغه وژل سوی دوښمن څخه کالی وکښل او خپل پوځی کوټ یې په وغوستی او ټانګ ته دننه یې ور وغورځوی او لیزا چې یوه پښه یې ماته هم وه په ځکیدلو د ټانګونو څخه لیری ولاړه، کله چې هغه نور دوښمنان ټانګونو ته را ورسیدل نو ویلیدل چې ټول امریکایي پوځیان سوځیدلی وه او نه پیژندل کیده دوی چې کله په خپل ملګری پسی وکتل نو هغه یې په نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ورلی نو مشر یی وویل: فکر کوم چی هغه رزیل ته د دوښمن څخه یو لوی غنیمت په لاس ورغلی دی چي موږ یی ځنی وانخلو نو ځکه تښتیدلی دی حرام خوره،

یرغلګرو د لیزا او ملګرو د ټانګو څخه چی کم شیان پاتی وه هغه د ځان سره یوړه څو ساعته وروسته د امریکایانو نور پوځیان را ورسیدل ویلیدل چی په ټانګونو کی ټول پوځیان سوځیدلی وه او د پیژندلو نه وه نو یی مرکز ته خبر ورکړ چی زموږ ټول پوځیان سوځیدلی دی،

لیزا چی سخته ټپی سوی وه په یو کنده کی بی سده پرته وه کله چی پر سد راغله نو د لیری څخه یی خپل ټانګونو ته وکتل نو ویلیدل چی نورو پوځیانو د دوی ټانګونه په موټرانو کی اچولی وه او روانیدل لیزا هغو ته ډیر ناری ور ووهلی خو هغو نه واوریدل او روان سول او لیزا په همدی کنده کی یوازی پاتی سول لیزا ډیر وژړل او د سختو ټپونو نه د ځایه نسوای ښوریدلای، شپه سول هری خوا توره تاریکه وه هیڅ شی هم نه معلومیدل لیزا په همدی توره تاریکه کی د ټپی زخمو سره پرته وه، سهارګاه سوه د مرغانو اوازونه وه د لیزا سترګی د ډیری سترړیا څخه څه اندازه پټی سوی وی او د مرغانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوازو سره بیرته راکښینسته د ځایه نسوای ښوریدلای لیزا وغوښتل چې خپله ماته پښه بیرته خپل ځای ته ورولي کله چې یې هڅوکی سره وښوروی نو لویه چغه ځنی وسوه او بی سده سوه،

د صحرایی کوچنی زبیر کتابونه په لاس کی مکتب ته روان وو د کندیَ طرف ته یی پام سو چی لیزا پکښی بی سده پرته وه کوچنی زبیر حیران سو چی دا څه وینی،

موسٰی په دښت کی د کلی کوچنیانو ته درس وایه زبیر په وارخطایی سره رالی او موسٰی ته یی وویل: استاذه! استاذه! ته غوږ را نیږدی که زه یو خبره درته کوم،

کله چی موسٰی غوږ ور نیږدی کی نو زبیر ورته وویل: استاذ هلته لیری یو عسکر پروت دی غټ وریښتیان یی دی او مړ دی،

موسٰی ډیر حیران سو خو شاګردانو ته یی ونه ویل چی هسی نه هغوی وارخطا سی نو یی شاګردانو ته وویل: زما زمریانو د نن لپاره همدومره درس بس دی زه کار لرم نو تاسو خپل کورو ته ولاړ سی او د نن ورځې درس ښه سم زده کړی سمده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو شاګردانو وویل: سمده استاذه،

کله چې شاګردان ولاړل نو موسٰی و زبیر ته وویل: درځه چیرې وو هغه؟

زبیر وویل: راځه استاذه هلته وو زه یې در ښیم،

کله چې د کندې و خواته ورغلل نو موسٰی ولیدل چې یو امریکایی پوځې وه کله چې موسٰی ور نیږدې سو او ساه یې وکتل نو ویلیدل چې ژوندۍ ده او ډیره سخته ټپې سویده او د سختو ټپونو څخه بې سده سویده،

زبیر وویل: استاذه دا څه وخت مړ سویدی؟

موسٰی وویل: مړه نه ده ژوندی ده،

زبیر وویل: استاذه ددې سړی څومره غټ وریښتیان نه دی؟

موسٰی وویل: بې عقله دا سړی نه دی ښځه ده،

زبیر وویل: نو استاذه ښځې کله عسکری کوی عسکری خو نارینه کوی؟

موسٰی غوسه سو او زبیر ته یې وویل: ته دا پریږده ته ورسه یو څه اوبه ژر راوړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر ولاړی او څو شیبی وروسته یی په خپلو کوچنی لاسو کی یی لږ اوبه را اخیستی وی او موسٰی ته یی ونیولی موسٰی حیران سو او ورته یی وویل: بی عقله دومره لږ اوبه؟

زبیر وویل: استاذه ما لاس په ویاله کی د اوبو ډک کړی وو خو چی دلته را رسیدم ټولې راڅخه تویې سوی خو ته اوبه څه په کوی؟

موسٰی وویل: دا ښځې ته یی ورکوم چی راکښینی،

زبیر وویل: خو استاذه دا دی زما سره په بسته کی د اوبو پتک دی په هغه کی یی ورکه،

موسٰی وویل: خو بی عقله اول به دی راکړی وای،

زبیر وویل: خو استاذه تا به ما ته ویلی وای چی د پتک اوبه راکه،

موسٰی په غوسه سو او ویویل: بی عقله زه نو ستا په پتک څه خبر وم؟

موسٰی د زبیر څخه د اوبو پتک واخیستی او لیزا ته یی په خوله کی اوبه ور واچولی د اوبو په څیښلو سره لیزا بیداره سوه کله چی یی موسٰی او زبیر ته وکتل نو وارخطا سوه او یو دم یی پر موسٰی باندی چاکو ونیوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر ژر د موسٰی و شاته پټ سو موسٰی لیزا ته وویل:
ارامه اوسه ارامه اوسه،

زبیر موسٰی ته وویل: ارررپی استاذه دا ښنګه بد ښځه ده موږ اوبه ورکړی دا مو په چاړه وهی ورته ووایه چی بیرته زموږ اوبه راکی،

موسٰی زبیر ته وویل: ته چپ سه،

لیزا د موسٰی په خبرو نه پوهیده چی دوی څه وایی ځکه چی موسٰی پښتو ویل نو ځکه لیزا ډیره وارخطا وه او خپل چاکو یی همداسی پر موسٰی نیولی وو بیا موسٰی په انګلیسئ لیزا ته وویل: ارامه اوسه زه تاسو ته کوم تکلیف نه در رسوم ارامه اوسه زه غواړم چی ستاسو سره کمک وکم،

خو لیزا هم هغسی وارخطا وه موسٰی د هغی و طرف ته کرار کرار ور رهی سو او د ارامه اوسه ارامه اوسه یی ورته ویل د لیزا هم پر موسٰی باور وسو او خپل چاکو یی لیری کړ، کله چی موسٰی لیزا ته ور نیږدی سو نو د هغې د پښئ څخه یی د دریشی پایڅه پورته کړه نو ویلیدل چی پښه یی ډیره ټپی سوی او ماته سوی وه، موسٰی لیزا ته په انګلیسی وویل: اغلئ تاسو ډیره ټپې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوی یاست زما کور دلته نیږدی دی زه به دی هلته درملنه در وکم،

لیزا په ژړا وویل: نه نه زه غواړی خپل ډلې او ملګرو ته ولاړه سم،

موسٰی شاوخوا وکتل ځوک یی ونه لیدل بیا یی لیزا ته وویل: دلته خو هیڅوک نه معلومیږی کمه دی ستاسو ملګري؟

لیزا وویل: هغوی ولاړل اډې ته،

موسٰی وویل: نو اډه خو ددی ځای څخه بیخی زیاته لیری ده او لاره هم خطرناکه ده ته زما سره زما کورته ولاړه سه زه به دی هلته درملنه در وکم بیا چی لاره سمه سوه او موقع برابره سوه بیا به دی بوځم،

لیزا په ژړا وویل: نه نه زه ځم خپلو پوځیانو ته که نه دوښمنان به ما دلته مړه کی هیله کوم زما سره کمک وکه،

موسٰی وویل: اغلۍ لار ډیره خطرناکه ده هر ځای د بم او چادونی او دوښمنانو امکان سته ته زما سره کورته ولاړه سه چی لارې سمی سوی زه وعده در سره کوم چی زه دی تر خپلو ملګرو ور رسوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیزا وویل: خو دوښمنان به ما دلته مړه کی،

موسٰی وویل: بی غمه اوسه هیڅوک به تاته لاس هم نه دروړی زه وعده در سره کوم،

د لیزا پر موسٰی څه باور وسو او د هغه سره د هغه کورته په تلو کی موافقه سوه،

موسٰی زبیر ته وویل: زبیره ته ورسه شا وخوا وګوره چی څوک خو به نه وی؟

زبیر شاوخوا وکتل او بیرته موسٰی ته راغلی او ویویل: استاذه هیڅوک نه وه یوازی زموږ د صنف تخته وو،

موسٰی وویل: بی عقله صنف نه دربنیم خلک در ښیم وام خلک خو به نه یی؟

زبیر وویل: یا استاذه څوک نسته،

موسٰی خپل پټو پر لیزا واچوی او هغې ته یی وویل: اغلې ږغ لره مه زه تا پټه خپل کورته بیایم،

لیزا سر وښوراوه چی سمده، بیا موسٰی هغه په غیږ کی ونیول او پورته یی کړه په داسی ډول چی د دباندی د خوا څخه نه معلومیدل، زبیر په حیرانی سره موسٰی ته وویل: استاذه! دا دومره غټه ښځه دی په غیږ کی واخیستل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسٰی په غوسه سره زبیر ته وویل: چپ سه بی عقله ځو واری می درته وویل چی خبری مکوه په پټه خوله په ما پسی سه،

زبیر وویل: زه دی څه کوم استاذه خو ستا ځیګر به وخیږی،

وروسته موسٰی لیزا په پټه خپل کور ته بوتله او په یو خونه کی یی پر کټ پریستل او هغی ته یی د درد ضد درمل ورکړل او کوچنی زخمونه یی ور پانسمان کړل او حیران وو چی د لیزا د ماتی پښی لپاره څه وکی، بیا یی زبیر ته ور ناره کړه چی شاته یی ولاړ وو: زبیره؟ زبیره؟

خو زبیر ږغ نه کوی موسٰی فکر وکی لکه چی زبیر تللی دی خو کله چی یی شاته وکتل نو زبیر یی شاته ولاړ وو موسٰی ورته وویل: دا ږغ ولی نکوی؟

زبیر وویل: خو تا راته وویل چی خبری مکوه پټه خوله په ما پسی سه،

زبیر غوسه سو او ویویل: افففف زما خدایه! بی عقله ما درته وویل چی بی ځایه خبری مکوه داسی می نه دی درته ویلی چی ته ګونګی سه ورسه وګوره چی انا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور کی ده مازی وګوره چی انا دلی ده که نه نور ږغ مکوه او بیرته راسه او هو چی هیچاته ددی ښځې په باره کی ونه وایی سمده؟

زبیر وویل: سمده استاذه نه وایم،

موسٰی وویل: شاباس زما زمریه هله نو ورسه،

زبیر ولاړی لیزا او موسٰی یوازی پاته سول لیزا وویل: دا کوچنی څوک دی؟

موسٰی وویل: زما د اکا زوی دی ډیر شوخ کوچنی دی خو ته راته ووایه چی تاسو ولی داسی سواست،

لیزا خپله ټوله کیسه ورته وکړه کله چی کیسه خلاصه سوه نو زبیر راغلی او ویویل: استاذه انا په کور کی وه نغم یی پاکول،

موسٰی زبیر تر باړخو ونیوی او ویویل: زما کوچنی بی عقله نغم نه غنم،

زبیر وویل: نغم! نغم! نغم!،

موسٰی وویل: زبیره ته دلی د خاله سره کښینه زه بیرته ژر راځم سمده چی ولاړ نه سی ددی ځایه او که چا دروازه وټکول نو مه یی ور خلاصوه سمده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر وویل: سمده استاذه خو ژر بیرته راسه زما مور ویل چی د کور سودا راوړه،

موسٰی وویل: ستا پر مور دی هم بل څوک ودریږی په تا سودا راوړی؟

موسٰی و لیزا ته وویل: اغلۍ تاسو یو څو شیبی انتظار سی زه بیرته راځم بیریږی مه زبیر در سره دی که دی څه ته ضرورت کیدی مازی دا بی عقل ته وایه،

موسٰی په ځغاسته د خپل انا کور ته ولاړی انا یی د کور په مینځ کی ناست وه غنم یی پاکول موسٰی په تلواری ورغلی او انا یی پر مخ ښکول کړه او ویویل: انا ته راځه زما یو څه پکار یی، موسٰی انا تر لاس ونیول او خونۍ ته یی بوتله او ورته یی وویل: انا زه پر تا څومره ګران یم؟

انا یی تر باړخو ونیوی او ویویل: دا څنګه پوښتنه کوی زما زویکه ته نه یی خبر چی ته پر ما تر ځان او تر خپلو زامنو هم زیات ګران یی،

موسٰی وویل: انا زه تاته یو خبره کوم ته وعده را سره وکه چی هیچاته به نه وایی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

انا یی وویل: سمده زویه نه وایم وعده در سره کوم ووایه څه خبره ده؟

موسٰی وویل: جمال کاکا ته به هم نه وایی؟

انا وویل: سمده زویه خو ته راته ووایه چی څه خبره ده؟

موسٰی خپل انا ته د لیزا په هکله ټوله وویل وروسته یی انا وویل: موسٰی زویه نو هغه خو به اوس ښه یی؟

موسٰی وویل: هو انا جانې هغه اوس یو څه ښه ده خو پښه یی ماته ده،

انا یی وویل: نو هغه اوس چیری ده؟

موسٰی وویل: هغه زموږ په هغه زاړه کور کی ده دلته می ځکه نه راوستل چی که جمال کاکا ولیدل نو هغه به ژوندئ نه پریږدئ او جمال کاکا هر وخت دلته راتلای سی ته راځه انا جانې کمک را سره وکه،

د موسٰی انا هم ځان تیار کړ او د موسٰی سره رهې سول،

زبیر لا د لیزا سره ناست وو او هغې ته یی حیران حیران په شوخی کتل لیزا پوښتنه تری وکړه او ورته یی وویل: ستا نوم څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر هغې ته هیڅ نه ویل لیزا بیا د هغه څخه پوښتنه وکړه او ویویل: ستا نوم څه دی؟

زبیر وویل: خاله زه ستا په خبرو نه پوهیږم ایا ته اوبه غواړې؟

لیزا وویل: نه نه ستا نوم څه دی؟

زبیر وویل: ته هلته مړه پرته وې بیا ما استاذ ته وویل او استاذ ته بیرته را ژوندۍ کړې بیا تا پر استاذ چاړه ونیول ...،

څو شیبې وروسته موسٰی او انا یې راغلل لیزا د موسٰی د انا په لیدو څه وارخطا سوه خو موسٰی ورته وویل: مه وارخطا کیږه دا زما انا ده دا د مات سوو هډوکو په سمولو کې مهارت لرې او دا به ستا پښه در سمه کړې سمده؟

زبیر وویل: استاذه! استاذه خاله ماته ویل وتښ نیم وتښ نیم،

د موسٰی انا چې کله لیزا ته ور نیږدې سوه نو ویویل: اووف خدایه دا ښایسته ګلالۍ انجلۍ دا ځانمرګانو څنګه در په دره کړیده،

زبیر وویل: انا دا ما پیدا کړه بیا مې استاذ ته ور وښوول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

انا یی ورته وویل: ته چپ سه احمقه،

زبیر وویل: انا زما نوم زبیر دی زه احمق نه یم بیا ماته احمق مه وایه تاته هم وایم استاذه بیا ماته بی عقل مه وایه،

موسٰی و زبیر ته وویل: سمده نه درته وایم خو اوس یو ګوړی چپ سه ته نه وینی چی خاله ناروغه ده،

وروسته موسٰی و لیزا ته د درد ضد ګولۍ ورکړی او ورته یی وویل: اغلۍ ته دا د درد ضد ګولۍ وخوره بیا به انا ستا پښه در پر ځای کړی،

لیزا هغه ګولۍ وخوړلی د موسٰی انا د لیزا پښه په خپلو لاسو کی ونیول او موسٰی ته یی وویل: زویه ته دې ته ووایه چی خپلی سترګی پټې کړی،

موسٰی و لیزا ته وویل: اغلۍ انا وایی چی سترګی دی پټې که،

لیزا هم خپلی سترګی پټې کړی، زبیر وویل: انا زه یی هم پټی کم؟

انا یی ورته وویل: احمقه ما نه درته وویل چی خبری مکوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر وویل: ګوره انا! بیا دی احمق راته وویل دا دی اخیری واری دی ته بیا ما ته ووایه بیا به زه ستا سره جوړ سم،

موسٰی د لیزا و ځنګته کښینستی کله چی لیزا سترګی پټې کړی نو د موسٰی انا یو دم د لیزا پښه وښورول او هغه یی خپل ځای ته ور وستل د لیزا تر خولې یو لویه چغه ووتل او د موسٰی لاس یی ټینګ په خپل لاس کی ونیوی او بی سده سوه، موسٰی په مینه د هغې لاس او بیا ښکلې مخ ته وکتل،

زبیر وویل: استاذه دا بیا مړه سوه؟

د موسٰی انا وویل: موسٰی زویه ددی پښه د یو څو ورځو لپاره باید په لرګو کی وتړل سی او چی باید تګ پر ونه کړی که نه بیابه یی هډوکی تور سی، کله چی یی د لیزا پښه په لرګو کی ور وتړل نو انا وویل: موسٰی زویه پر دی پام کوه او ښه خدمت یی کوه دا زموږ میلمنه ده زه ځم هسی نه جمال کاکا دی راغلی یی او په ما پسی به ګرځی داسی نه چی دلته راپسی راسی،

موسٰی وویل: سمده انا جانې ولی نه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

انا زبیر ته وویل: درځه زویه مور به دی در پسی خوابدی یی ته هم زما سره ولاړ سه،

زبیر وویل: اوووی انا! مور می سهار راته ویل چی بیا دی موسٰی استاذ ته ووایه چی وختی دی را ایله کی بره به د کور سودا راوړی خو دا استاذ زه دلته اخته کړم اوس به مور ته څه وایم استاذ هم ویل چی ددې عسکر خاله په اړه باید چا ته هیڅ ونه وایم؟

انا ورته وویل: عسکر نه عسکره احمقه،

زبیر په غوسه وویل: انا!!! ماته په دا احمق مه وایه،

موسٰی لا هم د لیزا د کټ و بغلته ناست وو لیزا بی هوښه وه او د موسٰی لاس یی په خپل لاس کی ټینګ نیولی وو موسٰی هم تر څه وخت وروسته خپل سر پر کټ کښیښوی او بیده سو،

د سهار اذانونه شروع وه څو دقیقی وروسته لیزا د خوبه را بیداره سوه ویلیدل چی دي د موسٰی لاس خپل په لاس کی ټینګ نیولی وو او موسٰی ددې په سبب ددې و خنګته بیده سوی وو کله چی لیزا غوښتل خپل لاس د موسٰی د لاسه وکاږی نو په دی وخت کی موسٰی راکښینستی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په موسکا سره یې لیزا ته وویل: اوه اغلۍ تاسو راکښینستلاست،

لیزا وویل: وبخښه زما له کبله تاسو ډیر په تکلیف سواست او دلته مو شپه تیره کړه وبخښې،

موسٰی وویل: نه نه کومه خبره نه ده،

بیا موسٰی وویل: اغلۍ ستا پښه اوس ښنګه ده انا جانې په لرګو کې در وتړل،

لیزا خپله پښه وکتل او د ارامی احساس یې وکړ او ویویل: اوه دا خو ډیره سمه سویده لکه چې ستا د انا په لاسو کې جادو دی،

موسٰی موسکی سو او ویویل: انا ویل چې باید ته یو څو ورځې ونه ګرځیږی ځکه هسې نه د پښې هډوکی دی تور سی،

لیزا وویل: سمده نه پر ګرځم،

بیا موسٰی وویل: اغلۍ د سهار د جماعت وخت دی زه باید ولاړ سم ما تاسو ته ستاسو د اړتیا وړ شیان دلته اینښی دی،

لیزا وویل: مننه کوم ستاسو د همکاری څخه تاسو زما سره زیات په تکلیف سواست،

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسیٰ وویل: نه د مننې وړ نه ده ته خو زموږ میلمه یې او موږ د میلمنو زیات احترام کوو او میلمه د خدای تعالیٰ رحمت ګڼو،

وروسته موسیٰ د مسجد په لور روان سو او په لیزا پسې یې دروازه وتړل، لیزا پر کټ هم هغسې پرته وه او د کور او والدینو په فکرونو کې ډوبه سوه څه وخت وروسته لیزا د موټرانو اوازونه او د خلکو ږغونه واوریدل دا ډیره وارخطا سوه او د کټه پورته سوه کرار کرار د دروازې پر طرف رهې سول چې وګورې چې څه پیښه ده کله چې دروازې ته ور ورسیدل نو د دروازې په یو سوری کې یې دباندې وکتل نو ویلیدل چې دوښمنان د وسلو سره ولاړ وه موټرونه یې شاوخوا درولي وه، لیزا ډیره وارخطا سوه خو ږغ یې نه کوی او هغو ته یې کتل څه وخت وروسته د یو کوره څخه د دوښمنانو مشر راووتې او د نورو دوښمنانو سره ولاړ وو چې په دې وخت کې د لیرې ځای څخه موسیٰ هم راښکاره سو او د دوښمنانو پر طرف را روان وو کله چې هغو ته را ورسیدی نو موسیٰ د دوښمنانو د مشر سره روغبړ وکړ او د هغه لاس یې ور ښکول کړ د دوښمنانو مشر موسیٰ په غیږ کې ونیوی او پر تندی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکول کړ، په دی سره لیزا نوره هم وارخطا سوه فکر یی کاوه چی موسٰی هغوی ددې لپاره راغوښتی دی چی دا هغو ته په لاس ورکی نو یی تر سترګو اوښکی را وبهیدلی او ډیره نا امیده سوه خو بیا یی هم موسٰی او د دوښمنانو مشر ته کتل موسٰی او هغه بانډار سره کاوه خو دا د هغو په خبرو نه پوهیده د دوښمنانو مشر موسٰی ته وویل: موسٰی ستا مکتب څنګه دی؟

موسٰی وویل: ښه دی کاکا په اخته یم،

لیزا فکر کاوه چی دوی ددې په باره کی سره ګډ دی خو څو دقیقی وروسته د دوښمنانو مشر د موسٰی څخه خدای په امانی واخیستی او ولاړل،

موسٰی چی کله د لیزا د کور وخواته وکتل نو داسی ورته معلومه سوه چی لیزا ده ته کتل خو وروسته موسٰی د همهغه دوښمن کورته ننوتی او څه وخت وروسته بیرته راووتی او د لیزا د کور پر خوا رهی سو او په یو لوښی کی یی د لیزا لپاره شیدې را اخیستی وی کله چی یی د کور دروازه خلاصه کړه او د لیزا و خونې ته ور ننوتی نو لیزا د خونې په پای کی ناسته وه ژړل یی او چاکو یی په لاس کی د لیری څخه د موسٰی پر طرف نیولی وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسٰی حیران سو او ویویل: څه پیښه ده اغلۍ؟

لیزا په ژړا وویل: ما په تا باور وکی خو ته هم زما دوښمن یی ته به هم ما ووژنی،

موسٰی موسکی سو او لیزا ته یی وویل: اغلۍ که ما ته وژلای نو مخکی به می لا وژلې وای نو بیا می دلته ولی راوستلۍ؟

لیزا وویل: ما ته ولیدلی چی د دوښمنانو د مشر سره ولاړ وی،

موسٰی موسکۍ سو او ویویل: اغلۍ پر یو چا داسی ژر قضاوت مکوه ته راسه اول دا شیدی وڅیښه انا جانی درته را استولی دی بیا به وروسته خبری کوو،

لیزا وویل: ایا ته ماته په دا شیدو کی زهر راکوی او مړه کوی می،

موسٰی موسکی سو او د شیدو لوښی یی پر سر پورته کړ او د هغه څخه یی څو غړپه شیدې وڅیښلی وروسته یی لوښی کښیښوی او د لیزا پر طرف ور رهی سو د هغی څخه یی چاکو واخیستی او ویغورځوی او بیا یی لیزا په غیږ کی راپورته کړه او پر کټ یی کښینول او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته یی وویل: ما نه وه درته ویلی چی پر دا پښه تګ مکوه؟

لیزا وویل: هیله کوم ما بیرته خپلو ملګرو ته بوځه،

موسٰی وویل: اغلی لار ډیره خطرناکه ده د دوبی موسم دی د وسلوالو فعالیتونه زیات سویدی پر هر کونج وسلوال ولاړ وی ته د دوبی تر ختمیدو پوری همدلته پاته سه زه وعده در سره کوم چی زه دی تر خپلو ملګرو ور رسوم،

وروسته یی لیزا ته شیدې ورکړی او هغې وخیښلی موسٰی د هغې په سترګو کی خپلی سترګی ښخی کړی وی، کله چی لیزا ارامه سوه نو موسٰی وویل: هغه سړی جمال نومیږی زما اکا دی د وسلوالو مشر دی ما هغه ته ستا په اړه هیڅ نه دی ویلی او نه هم هیڅکله ورته وایم او تر څو چی زه ژوندی یم تاته به هیڅوک لاس هم نه درووړی،

لیزا وویل: که ستا اکا خبر سو نو هغه به هتماً ما مړه کی،

موسٰی وویل: چی زه در سره یم د هیچا څخه مه بیریږه اغلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیزا زړه تسکین او ارام پیدا کړ او بیا یې موسٰی ته وویل: زما نوم لیزا ده لیزا سمیت د امریکا اوسیدونکی یم،

موسٰی وویل: زما نوم موسٰی دی او ددی ښکلی کندهار اوسیدونکی یم،

لیزا وویل: تاسو انګلیسی ځنګه زده کړی؟

موسٰی وویل: ما د انګلیسی کورسونه ویلی دی او ما ټولې زده کړی په ښار کی کړیدی کله چی فاریغه سوم نو می خپل کلی ته بیرته راغلم تر څو دلته خپلو کلیوالو ته خدمت وکم او اوس دلته د کلی کوچنیانو ته سبق وایم،

لیزا وویل: په کور کی څوک او څوک یاست؟

موسٰی وویل: زه، انا جانه می، شوخک زبیر پنځه اکاګان می او د هغوی میرمنی او اولادونه،

لیزا وویل: او ستا مور او پلار ایا هغوی ستاسو څخه جلا دی؟

موسٰی سړه ساه و ایستل او ویویل: هغوی په دی دنیا کی نسته،

لیزا وویل: اوه بخښنه غواړم خو هغوی ځنګه مړه سول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسٰی وویل: زه کوچنی وم چې هغوی ښار ته تلل چې موټر یې پر بم برابر سو او دواړه مړه سول زه د هغو یوازینی زوی وم بیا زما پالنه زما انا وکړه په کوچنیوالی ما او انا ښار ته ولاړو تر څو زه هلته زده کړې بشپړې کړم کله چې مې زده کړې بشپړې کړې نو بیرته راغلو کلي ته،

لیزا وویل: او دا ستا اکا دی ولې په وسلوالو کې دی؟

موسٰی وویل: نه پوهیږم زه او انا مې د هغه سره چندانې کار نه لرو او نه هم زیاتې خبرې ور سره کوو دی یوازې دلته په دوبی موسم کې راځي زیاتره وخت نه وي پر کور،

لیزا وویل: ایا ته به ما خپلو ملګرو ته بوځې؟

موسٰی وویل: هو زه وعده در سره کوم چې لاړې سمې سې زه دې تر خپلو ملګرو هتماً ور رسوم،

څو ورځې تیرې سوې د لیزا پښه څه ناڅه سمیدل موسٰی او د هغه انا دواړو د لیزا ښځه ډیره ښه څارنه کول موسٰی به په خپل لاس لیزا ته ډوډې ورکول لیزا د هغو ښځه ډیره خوشحاله وه هره ورځ به موسٰی د هغې د پښې په خاطر ګرځول تر څو یې پښه ژر سمه سي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو ورځو وروسته د لیزا پښنه جوړه سوه او اوس نو دا داسې سوې وه لکه دا چې د موسٰی او د هغه د انا خپل قریبه او خپله وی د موسٰی اخلاقو د لیزا زړه وړی وو، یوه ورځ لیزا و موسٰی ته پیسی ونیولی او ورته یی وویل: موسٰی زما دریشي زیاته خیرنه سویده او زه نور کالي هم نه لرم دا پیسی واخله او ماته یو جوړه کالې راوړه،

موسٰی وویل: لیزا تاسو زموږ میلمنه یاست او موږ د میلمه څخه د څه په بدل کی پیسی نه اخلو سمده سبا به زه بازار ته ولاړ سم او درته را به یی وړم،

کله چی سبا سو نو موسٰی بازار ته ولاړی چی د لیزا لپاره دریشې واخلی خو لکه څنګه چی دا یو صحرایی بازار وو نو د کندهاري او صحرایی کالو ماسیوا نور څه نه وه پکښی نو یی یو کندهاري ډوله کالی ورته واخیستل او ورته یی راوړل او لیزا ته یی ورکړل او ورته یی وویل: لیزا دا ستا کالی دی خو هو خاندی به نه باندی ځکه چی دا صحرایی ډوله کالی دی دریشی می نه کړه پیدا،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چی لیزا هغه وکتل نو ډیر یی خوښ سوه او موسٰی ته یی وویل: واه دا خو ډیر ښکلی کالې دی زما ډیر خوښ سوه،

موسٰی وویل: رښتیا؟

لیزا وویل: په رښتیا چی زیات می خوښ سوه ته دلی انتظار سه زه به حمام وکم او دا کالی به واغوندم،

موسٰی وویل: سمده ورسه مهربانی،

لیزا ولاړل او هغه کالې چی موسٰی ورته راوړی وه په خونه کی یی واغوستل څه وخت وروسته راووتل موسٰی چی کله هغه ولیدل نو د کوه قاف د شاپیرۍ پځیر ښایسته سوې وه د موسٰی سترګی د هغې څخه هیڅ نه اوښتی کله چی لیزا و موسٰی ته راورسیدل نو هغه ته یی وویل: موسٰی زه ځنګه ښکارم؟

موسٰی د هغې په ښکلی څیهره کی ډوب وو او د لیزا خبری یی نه اوریدلی بیا لیزا ورته وویل: موسٰی زه څنګه ښکارم؟

خو موسٰی د لیزا په ښکلی څیهره کی همهغسی غرق وو نو ځکه یی د لیزا خبری نه اوریدلی لیزا د هغه سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته لاس وښوروی او ورته یی وویل: موسٰی صاحب چیرته غرق یی،

موسٰی یو دم په هوښ کی رالی او ویویل: ډیره ښکلی معلومیږی،

او بیا موسٰی وویل: لیزا انا خپل کورته غوښتې یی نن انا جانی تاته میلمستیا کړیده ټول تللی دی انا جانه یوازی ده په کور کی راځه چي ورسو،

لیزا وویل: سمده درځه،

موسٰی د هغی پر سر پوړنۍ ور واچوی او د انا د کور پر خوا رهی سول کله چی هلته ورسیدل نو انا هغو ته په انتظار وه کله چی لیزا کورته ور ننوتل نو انا ته داسی ښکاره سول چی ګواکی شاپیرۍ یی په کور ور ننوتل انا د هغی په لیدو زیاته خوشحاله سوه او موسٰی او لیزا ته یی وویل: دواړه هلته په دروازه کی ودریږی زه ځم اشپزخانی ته بیرته ژر راځم تر څو چی زه نه یم راغلی رانسی کورته،

لیزا حیرانه سوه چی انا څه وایی بیا موسٰی د انا خبری هغۍ ته ترجمه کړی، څه وخت وروسته انا د اشپزخانی څخه راووتل او یو لوښی یی په لاس کی وو چی اور

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکښې کې وو کله چې لیزا ته را ورسیدل نو د هغې مخته یې اور ونیوی او سفلني یې ورته دود کړل، لیزا حیرانه وه خو موسٰی هغې ته وویل: لیزا زموږ یو دود دا دی چې یو څوک ښایسته ووینو نو هغه ته دا سفلني دود کوو، وروسته انا لیزا تر باړخو ونیول او ورته یې وویل: ماشاءالله ډیره ښکلی معلومیږی د بدو سترګو دی په امان یی،

لیزا انا ته موسکی موسکی کیدل او د هغې په غیږ کی ورغلل او انا یې ټینګه په غیږ کی ونیول او تر سترګو یې اوښکې راغلی انا د هغې اوښکې پخپل لاس ور پاکی کړی او ورته یې وویل: اوه زما لورکۍ ولی ژاړی راځه لورۍ ژاړه مه ته راځه زه تاته نن څه شی در پخوم موږ به په دواړو د چرګ غوښی او وریجی پخی کړو،

موسٰی موسکی سو او لیزا ته یې وویل: لیزا انا وایی چې ته به نن زما سره اشپزې کوی،

لیزا موسکۍ سوه او ویویل: ولی نه،

انا و موسٰی ته وویل: موسٰی زویه ته ورسه لیزا لورکې ته د باغو څخه تازه او خواږه انګور راوړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د موسٰی زړه د لیزا څخه نه تلی په زړه نازړه یی وویل: سمده انا جانی،

موسٰی په ځغاسته د کوره ووتی چی بیرته ژر راسی د باغو پر طرف ولاړی،

انا او لیزا دواړه یوازی سره پاته سول انا د موسٰی په زړه پوهیدل چی د هغه د لیزا سره مینه پیدا سویده وروسته انا د موسٰی و طرف ته کتل او لیزا ته یی په اشارو سره وویل: موسٰی زما د زوی زوی دی ډیر کوچنی وو چی را پاته سو ډیر راباندی ګران دی ډیر ښه هلک دی،

لیزا د انا په خبرو نه پوهیدل خو د هغی په اشارو پوهیدل لیزا وویل: موسٰی ښه هلک دی هغه ما ته ټوله کیسه کړیده ډیر ښه هلک دی هغه ما ته نوی ژوند راکی،

انا هم د لیزا په خبرو نه پوهیده خو دومره پوهیده چی لیزا هم د موسٰی صفت کوی بیا انا وویل: لوری زه موسٰی ته د ډیر وخت راهیسی ګورم چی هغه تل داسی ژوند کوی لکه هغه چی د یو چا په تمه وی خو د کله نه چی ته راغلی یی نو د هغه دا تمه لیری سویده فکر کوم هغه ستا سره مینه کوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

انا د موسیٰ د مینی خبره لیزا ته په رسم کی تشریح کړه لیزا څه ناڅه پوهه سوه چی د انا مطلب مینه ده لیزا غوښتل چی یو څه ووایی خو په دی وخت کی موسیٰ راغلی کورته او ډیر ستړی سوی وو او انا ته یی وویل: انا انګور می راوړل ښه خواږه انګور دی د دوو خوږو انجونو لپاره،

انا موسکۍ سوه او ویویل: چپ سه بی شرمه،

ډوډی تیاره سوه کله چی سترخوان اوار سو او ډوډی شروع سوه نو انا په خپلو لاسو لیزا ته ډوډی ورکول وروسته موسیٰ په خواشینی سره انا ته وویل: انا دا څه کوی د کوچنیوالی څخه تر اوسه پوری دی ماته په خپلو لاسو ډوډی راکول او اوس یی دیته ورکوي؟

انا وویل: بس ده دا شل کاله می تاته ډوډی په خوله کی درکول اوس می دا ده لور پیدا کړه اوس یی دیته ورکوم،

موسیٰ لیزا ته وویل: اغلۍ انا دا شل کاله کیږ.ی چی ماته یی په خوله کی ډوډی راکول خو نن چی ته راغلی نو انا زه پریښوولم او تاته یی ډوډی درکړل،

لیزا موسکۍ سوه او ویویل: بس ده ته خو نور کوچنی نه یی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسٰی وویل: نو ته کوچنۍ یی چی د انا د لاس خوراک کوی؟

لیزا موسکۍ سوه او ویویل: هو کوچنۍ یم،

انا غوښتل چی لیزا ته ګوله ورکی خو موسٰی د انا لاس ټینګ کړ او غوښتل یی چی د انا د لاس ګوله وخوری خو لیزا هم د انا لاس ټینګ کړ او د دواړو سره مقابله سوه دواړو د انا د لاس ګولی ته خوله ور نیږدی کول چی په دی وخت کی د دواړو سرونه سره وموښتل او وجنګیدل موسٰی ګوله پریښوول او لیزا ژر هغه په خوله کړه او موسکۍ کیده او موسٰی ته یی وویل چی در څخه ومی ګټل،

وروسته کله چی ډوډۍ وخوړل سوه نو انا موسٰی ته وویل: موسٰی زویه ته ورسه هغه انګور راوړه،

موسٰی انګور راوړل او د لیزا مخته یی کښیښوول لیزا وویل: ما د کندهار د انګورو صفتونه زیات اوریدلی دی خو خوړلی می نه وه دا دی نن تا راته راوړل،

وروسته لیزا کندهاری انګور وخوړل د څه خوړولو سره یی وویل: واو څومره چی می یی صفت اوریدلی وو تر هغه زیات خوند کوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمال په خپل مرکز کی وو چی د لیزا پر ډلی حمله کونکي راغلل او ویویل: مشره موږ چی پر کومو موټرانو حمله کړی وه په هغه ورځ زموږ یو ملګری ورک سوی وو موږ فکر کاوه چی هغه د غنیمت مال غلا کړیدی او وړیدی خو موږ هلته زیاتی څیړنی وکړی خو داسی نه معلومیده چی هغه دی تښتیدلی وی خو هلته موږ یو بل څه پیدا کړه،

جمال وویل: څه څه مو پیدا کړه؟

هغه وویل: مشره موږ هلته د یو پوځی د بوټو پلونه پیدا کړل چی د هغه ځایه د کلی پر طرف راغلی وو خو بیرته نه وو تللی،

جمال ډیر حیران سو او د خپله ځایه ولاړ سو او ویویل: تاسو مطمئن یاست چی هغه بیرته نه وو تللی؟

هغه وویل: هو مشره موږ باوري یو چی هغه بیرته نه دی تللی،

جمال وویل: ورسی څیړنه پسی وکئ او په اړه یی معلومات پیدا کئ،

هغه وویل: سمده مشره،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماښام سو لیزا او موسٰی د انا د کوره څخه د خپل کور پر طرف رهی سول پر لارئ تاریکه وه لیزا بیریدل نو ځکه یی خپل لاس د موسٰی په لاس کی ورکړ موسٰی چی د هغی لاس په لاس کی ولیدی نو حیران سو او د ځانه سره موسکی سو او د لیزا لاس یی ټینګ کړ څه وخت وروسته کورته را ورسیدل لیزا پر خپل کټ پریوتل او موسٰی د دروازی و خواته پریوتی شپه نیمایی سوه لیزا بیده سوی وه خو څه وخت وروسته یو دم را پورته سوه او یوه لویه ناره یی وکړه موسٰی هم راکښینستی او د لیزا پر طرف یی ور وځغستل موسٰی چی لیزا ته کله نیږدی سو نو لیزا ژر هغه په غیږ کی ټینګ ونیوی لیزا ډیره وارخطا وه خو موسٰی د هغئ پر سر لاس ور تیروی او ډاډګیرنه یی ورکول کله چی لیزا یو څه ارامه سوه نو موسٰی ورته وویل: هیڅ خبره نه ده ارامه اوسه بد خوب دی لیدلی دی،

لیزا وویل: هو همداسی ده،

وروسته موسٰی و لیزا ته وویل: لیزا پر راسته اړخ پریوځه او راسته لاس تر راسته باړخو لاندي که،

لیزا هم همداسی وکړه خو په چپه لاس یی د موسٰی لاس ټینګ نیولی وو او بیده سوه، موسٰی تر سهاره همداسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیزا بغلته ناست وو چې د سهار اذانونه شروع سول او لیزا راکښېنستل ډېر د خوشحالۍ او ارامۍ احساس یې کاوه ویلیدل چې ددې لاس د موسیٰ په لاس کې وو او موسیٰ ددی پر کټ سر ایښی وو او بیده سوی وو خو د لیزا د لاس په ښوریدو راکښېنستی کله چې یې لیزا ته وکتل نو موسکی سو او د لیزا پر تندی یې لاس ونیوی چې د هغې خو به تبه نه وی بیا یې لیزا ته وویل: ته اوس څنګه یې ایا بیا خو به دی بد خوب نه یې لیدلی؟

لیزا موسکۍ سوه او ویویل: نه نه تا خو ماته داسی جادوګری طریقه د خوب راوښول چې هیڅکله می داسی ارام او استراحتمند خوب نه وو کړی،

موسیٰ موسکی سو او ویویل: لیزا دا زما طریقه نه وه او نه هم جادوګری طریقه وه بلکې دا زموږ پیغمبر ﷺ خوارلسوه کاله مخکی موږ ته راښولی ده چې باید داسی بیده سو نو د هر بد خوبه او د بدن د ډول ډول ناروغیو څخه به خلاص یو،

لیزا وویل: ایا ستاسو پیغمبر ساینسپوه وو،

موسیٰ وویل: نه د هغه خو لیکل لا نه وه زده خو الله ﷻ ډېر زیات علم ورکړی وو چې د نن عصر ټول ساینسپوهان ورته عاجزه دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا موسٰی وویل: لیزا د سهار د لمانځه وخت دی زه به مسجد ته ولاړ سم،

لیزا وویل: سمده خو ژر بیرته راسه سمده؟

موسٰی وویل: انشاءالله ژر راځم،

موسٰی ولاړی د سهار لمونځ یی ادا کړ خو چی کله بیرته راتلی نو زبیر په لاره کی ګین کوی کله چی یی موسٰی ولیدی نو یی ورته وویل: استاذه استاذه راسه زما سره ګین وکه،

موسٰی ورته وویل: زه نه یم فاریغه په کار اخته یم،

زبیر وویل: راسه استاذه نو،

موسٰی وویل: نه می درته وویل چی کار لرم،

زبیر وویل: استاذه راځی که مور ته د عسکر خاله دا ووایم؟

موسٰی حیران سو او زبیر یی تر غوږ ونیوی او ورته یی وویل: بی عقله استاذ ته اخطار ورکوی داسی به دی ووهم،

زبیر وویل: استاذه بل ځوک نسته چی زما سره ګین وکړی ته یی راسره وکه نو هیله کوم استاذه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسٰی وویل: زویه خاله دی ماته په انتظار ده زه هغې ته ورځم،

زبیر وویل: استاذه زه به هم در سره ولاړ سم بره به هلته ګین وکو،

موسٰی وویل: خو زویه بیا خاله په عذابوی ته خو ډیره شوخی کوی،

زبیر وویل: نه یی کوم استاذه وعده ده،

موسٰی وویل: سمده راځه،

وروسته موسٰی زبیر پر خپلو اوږو کښینوی او د کور پر طرف رهي سول په لاره کی زبیر و موسٰی ته وویل: استاذه پر تا خاله ګرانه ده؟

موسٰی موسکی سو او ویویل: هو زویه،

بیا زبیر وویل: ډیره درباندی ګرانه ده،

موسٰی وویل: هو ډیره،

زبیر وویل: استاذه هغه نور زموږ سره اوسیږی هغه خو به نه ځی؟

موسٰی سړه ساه و ایستل او ویویل: کاش چی زویه هغه زموږ سره پاته کیدای سوای،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر وویل: استاذه زه هغې ته وایم چی زموږ سره پاته سې زه به هغې ته د کور سودا هم راوړم،

موسٰی موسکی سو او ویویل: زویه ته درس ووایه بره به خاله پاته سی که ته درس ونه وایی نو خاله بره ځې،

زبیر وویل: سمده استاذه زه سبق وایم خو ته خاله ته ووایه چی زموږ څخه دی نه ځی،

موسٰی وویل: سمده زه به ورته ووایم،

موسٰی و زبیر ته وویل: ته ورسه د انا څخه و خاله ته شیدې راوړه زه به خاله د خوبه راویښه کم،

زبیر وویل: استاذه خاله تر اوسه بیده ده هغی لمونځ نه دی کړی؟

موسٰی موسکی سو او ویویل: نه زویه لمونځ یی وکی،

زبیر وویل: نو تر لمانځه وروسته څوک کله بیدیږی زما مور او انا چی لمونځ وکی بیا قرآن شریف وایی او خاله بیدیږی؟

موسٰی موسکی سو او ویویل: ته ورسه زویه خاله ته شیدې راوړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر ولاړی د انا کورته انا قرآنکریم وایه زبیر د انا لاس ور ښکول کړ او ورته یی وویل: انا استاذ ویل چی د خاله لپاره شیدې راکه،

انا ورته وویل: ته یو ګوړی صبر وکه زه به دا یو څو ایتونه ووایم،

زبیر وویل: سمده انا خو لږ ژر کوه ما و خاله او استاذ بره ګین کوو،

انا وویل: سمده زویه،

انا چی کله د قرآنکریم تلاوت وکړ نو زبیر ته یی وویل: راځه زویه زه به شیدې در پخی کم،،

زبیر هم د انا سره رهی سو کله چی انا شیدې پخولې زبیر ورته وویل: انا پر تا خاله ګرانه ده؟

انا وویل: هو راباندی ګرانه ده،

زبیر وویل: استاذ هم ویل چی خاله پر ما ډیره ګرانه ده،

انا موسکۍ سوه او ویویل: څه وخت یی وویل؟

زبیر وویل: سهار یی وویل ویله یی چی خاله پر ما ډیییییره ګرانه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیدې پخې سوې انا په یو لوښی کی هغه د زبیر په لاس ورکړی زبیر هم شیدې د موسٰی کورته ویوړی لیزا د زبیر په لیدو ډیره خوشحاله سوه او هغه یی خپل بغلته کښینوی،

موسٰی زبیر ته وویل: زبیر تا سهار چاوی وخیښلی؟

زبیر وویل: هو استاذه بابا زما مور ته کیک راوړی وو هغه می هم وخوړی،

موسٰی وویل: نو کیک دی یوازی وخوړی ما او خاله ته دی نه راوړی؟

زبیر وویل: خو هغه بابا زما مور ته راوړی وو زما مور ماته لږ ځنی راکی،

لیزا موسٰی ته وویل: تا او زبیر څه سره ویل؟

موسٰی وویل: ما ده ته وویل چی تا د سهار چاوی وخیښلی ده ویل هو ومی خیښلی وای زما پلار زما مور ته کیک راوړی وو هغه می هم وخوړی ما ویل یوازی دی خوړی ما او لیزا خاله ته دی نه راوړی ویل هغه زما پلار زما مور ته راوړی وو،

لیزا ددی خبرو په اوریدو ډیر وخندل او زبیر یی پر مخ ښکول کړ، کله چی د سهار ناشته خلاصه سول نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسٰی لیزا او زبیر په کور کی ګین شروع کړ دوی ګین سره کاوه چی څه وخت وروسته دروازه وټکیدل موسٰی دروازی ته ورغلی د دروازی په یو سوری کی یی دباندی وکتل چی څوک دی نو ویلیدل چی انا دروازه ټکول، موسی و انا ته دروازه ور خلاصه کړه د ټولو سره تر روغبړ وروسته انا زبیر او لیزا ته اشاره وکړه چی تاسو ورسی ګین مو وکی او موسٰی ته یی وویل چی ته زما سره کښینه، موسٰی د انا سره کښینستی خو فکر یی په لیزا کی وو او هغی ته په کتو موسکی موسکی کیدی او ډیر خوشحاله وو انا په لومړی ځل د موسٰی په سترګو کی دومره زیاته خوشحالی ولیدل نو یی موسٰی ته وویل: زویه یو پوښتنه در څخه وکم؟

موسٰی وویل: هو انا جانې،

انا وویل: ایا ته د لیزا سره مینه کوی؟

موسٰی موسکی سو او ویویل: انا جانې دا تاسو څه وایست؟

انا وویل: زویه ما ستا په مخ او سترګو کی په لومړی ځل دومره زیاته خوشحالی ولیدل او دا خوشحالی تاته لیزا در کړیده نو ووایه ایا ته د هغی سره مینه کوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسٰی موسکی سو او ویویل: نه انا جانی داسی خبره نه ده،

انا وویل: زویه ته د پنځو کالو وی چی ماته را پاته سوی او تر دا شلو کالو پوری ما رالوی کړی زه ستا په هر حرکت او هر چلند ښه پوهیږم زه پوهیږم چی ته ماته دروااغ وایی خو زه غواړم ستا له خولی ریښتیا واورم ایا ته د لیزا سره مینه کوی؟

موسٰی څو شیبی چپ وو او بیا یی وویل: هو انا جانې زه د لیزا سره ډیره مینه کوم،

انا موسکی سوه او ویویل: ایا تا هغې ته ویلی دی چی ته مینه ور سره کوی؟

موسٰی وویل: نه انا جانې نه دی می ورته ویلی،

انا وویل: نو ولی نه ورته وایی چی ته د هغې سره مینه کوی؟

موسٰی وویل: انا جانې لیزا زموږ میلمنه ده او موږ د هغې څه ناڅه خدمت وکړ اوس که ما هغې ته د مینی وویل نو دا به دا فکر وکړی چی موږ د هغې څخه د احسان بدله اخلو او دا فکر به هم وکړی چی زه د هغی د مجبوریته ګټه اخلم او زه دا نه غواړم انا جانې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

انا وویل: زویه په مینه کی احسان نه ځاییږی او نه هم مینه چاته دوهمه موقع ورکوی ته موقع لری چی ورته وواییی،

موسٰی سړه ساه و ایستل او ویویل: نه انا جانې زه نه غواړم د پلار او د نیکه دود او دستور ور بدنامه کم زموږ نیکه ګانو د میلمه ډیر احترام کوی موږ یی هم کوو لیزا زموږ میلمنه ده او میلمنه به وی زه نه غواړم چی د هغې د مجبوریه ګټه پورته کم،

انا وویل: زویه نور نو ستا خوښه ده چی هر څه کوی ستا خوشحالی زما خوشحالی ده او زه ستا خوشحالی په لیزا کی وینم بی لیزا به ستا ژوند نیمګړی وی،

وروسته انا د لیزا څخه خدای په امانی واخیستی او ولاړه،

وسلوالو د پاته سوی پوځی په پلونو پسی خیږنه کول چی کرار کرار هغه کندئ ته را ورسیدل چیری چی لیزا تېپې پرته وه وسلوالو د کندئ پر شاوخوا وکتل تر څو معلومه کړی چی دا پوځی چیری تللی دی یو وسلوال خپل مشر ته وویل: مشره د دوښمن پلونه تر دی ځایه پوری سته خو نور نه معلومیږی چی کومې خواته تللی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشر په درد سره ورته وویل: په هوا سوی به وی،

ټول په خندا سول مشر په درد سره ورته وویل: چپ سی بی عقلانو ونیسی معلومه کی چی دا پوځی چیری تللی دی په مځکه خو نه دی ننوتلی،

تر ډیر وخت وروسته یو وسلوال وویل: مشره شاوخوا نور ددی پوځی پلونه نسته خو دې کندی ته د یوه کوچنی پلونه او د یوه غټ سړی پلونه راغلی دی او خاص ددی پوځی تر ځایه پوری شاید په دی دوو کسانو کی چم وی،

مشر وویل: معلوم کړی چی دا کوچنی او دا سړی کومی خواته تللی دی؟

وسلوالو بیا څیړنه شروع کړی چی معلومه کړی چی دا د کوچنی او د دا سړی پلونه چیری تللی دی تر ډیر وخت وروسته یو وسلوال و مشر ته وویل: مشره د دا کوچنی او د دا سړی پلونه د مشر جمال صاحب د کلي خواته تللی دی،

د وسلوالو مشر جمال ته وویل: مشره د هغه پوځی پولونه مو نه کړل پیدا خو هغه ځای ته چی دا پوځی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکښې وو د یوه کوچنی او د یوه لوی سړی پلونه راغلی وو،

جمال وویل: ایا تاسو د هغه کوچنی او د هغه سړی پلونه وڅارل چی چیری تللی وه؟

مشر وسلوال وویل: هو مشره هغه مو معلوم کړه هغه ستاسو د کلی خواته تللی وه،

جمال ډیر حیران سو او بیا یی وویل: دا څه وایست؟

مشر وسلوال وویل: رښتیا وایو مشره که ستاسو اجازه وی موږ به ستاسو کلی تلاښې کړو؟

جمال وویل: سمده سبا ته کلی ټوله تلاښی کوو ټول اماده سی،

ټولو وسلوالو وویل: اماده یو مشره،

ماښام چی کله لیزا او موسٰی ډوډی وخوړل نو لیزا وویل: موسٰی ستاسو ډوډی زیاته خوندوره ده ما ته زیات خوند راکوی،

موسٰی موسکی سو او بیا یی په باطنی خوابدتیا سره وویل: یو څو ورځې یی لا ښه ډیره وخوره وروسته خو بیا ته خپل کور ته ځې او هلته به بیا داسی ډوډی نه وی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیزا وویل: موسٰی زه چی کله لومړی ځل تا دلته راوستلم نو زما ډیر تلوار وو چی بیرته خپلې اډې او کورته ولاړه سم خو اوس می هیڅ تلوار نه دی اوس می ددی ښکلی ځای څخه زړه نه غواړی چی ولاړه سم،

موسٰی وویل: دا ویل څه فایده ته خو اغسی هم ځې،....

سهار سو اذانونه شروع وه موسٰی د خوبه راکښینستی اودس یی وکړ او تر لمانځه وروسته یی دعا کوله او ویویل: یاالله ته خو پوهیږی چی زه د لیزا سره ډیره مینه لرم خو ددی توان نلرم چی ورته ووایم او نه هم غواړم ورته ووایم ځکه نه غواړم چي لیزا دا ووایی چی ما دیته د مینې ځکه وویل چی ما پر دې احسان کړیدی او اوس د احسان بدله ځنی غواړم او بل دا چی کچیری هغی وهم منل نو دلته به زما سره دا هیڅکله پر ارامه نسي پاته جمال کاکا او نور وسلوال به پر دې ژوند اور کړی یاالله ته لیزا تر خپله کوره پخیر ورسوی هر ځای چی دا خوشحاله وی لکه زه چی خوشحاله یم زه د هغې سره مینه کوم او تل به یی کوم،

سهار وختی موسٰی د لیزا لپاره د انا له کوره شیدې راوړی او هغې ته یی ورکړی لیزا موسکې سوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویویل: واه موسٰی صاحب داسی هره ورځ شیدې خو ما خپل کور کی هم نه وی خوړلی،

موسٰی وویل: لیزا دا هم ستا کور دی،

لیزا وویل: موسٰی زه به هیڅکله ستاسو او د انا جانې دا مینه هیره نه کم،

موسٰی وویل: لیزا زه ځم د ولسوالی و بازار ته انا ته څه شیان راوړم ته دلته پاته سه زه بیرته ژر راځم،

لیزا وویل: سمده خو ژر بیرته راځه که نه زما به ډیر نفس تنګ سی،

موسٰی وویل: سمده ژر راځم،

موسٰی د ښار پر طرف رهی سو او د کور دروازه یی د دباندې لخوا څخه قلف کړه کله چي موسٰی تر کلی ووتی نو وسلوال هم د کلی پر طرف راغلل په کلی کی شور ماشور جوړ سو جمال ټولو کلیوالو ته وویل: کلیوالو د دباندی څخه کلی ته یو چا یو امریکایی پوځی راوستلی دی او د هغه سره یی مرسته کړیده او په خپل کور کی یی پټ کړیدی.....، لیزا ددوی ږغ واوریدی او د خونې څخه ووتل چی وګوره دباندې څه پیښه ده کله چی یی د دروازی په سوری کی وکتل نو ډیر زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسلوال ولاړ دی او مشر یی د کلی خلکو ته اخطار ورکوی لیزا ډیره وارخطا سوه او په ریږدیدو سوه، بیا جمال وویل ....کچیری تاسو هغه موږ ته په لاس را نکړ نو د هغه سره سره به تاسو او ستاسو کورنۍ یو لا ژوندی نه پریږدو زه تر شپږو پوری حساب کوم د شپږو تر خلاصیدو پوری باید تاسو هغه ماته تسلیم کړی که نه نو بیا مو د ژوند څخه لاس پریولئ، جمال د یوه څخه حساب شروع کړ د کلی خلک ډیر وارخطا سوه چی دا په څه مصیبت واوښتو هیچا هیڅ هم نه ویل جمال حساب تر پنځو ورسوی خو بیا هم چا څه نه وویل کله چی شپږ پوره سوه نو جمال امر وکړ چی کورونه ټول تلاښۍ کړی وسلوالو د کورونو تلاښۍ شروع کړې، لیزا د دروازی په سوری کی وسلوال لیدل چی کور په کور یی تلاښی کولی د لیزا بدن د ډیری بیرې کار پریښودی او ټول بدن یی ریږدیدی وسلوال کرار کرار د لیزا د کور خواته را روان وه کله چی وسلوال د لیزا د دروازی خواته را ورسیدل لیزا په یو خونه کی د ریږدیدلو په حالت کی ننوتل چی ټول بدن یی تر واک وتلی وو وسلوالو د کور دروازه وټکول خو چا نه ور خلاصول وروسته یی قلف ته پام سو یو وسلوال هغه بل ته وویل: ملګریه دا دروازه خو قلف ده څه په وکم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه بل وسلوال وویل: دروازه ور ماته که،

څو کسان د دروازې په ماتولو اخته سول چې دروازه ماته کړی کله چې لیزا د دروازې د ماتولو بړغ واوریدی نو نوره هم وارخطا سوه او د ژونده یی امید وختی، وسلوال لا د دروازی په ماتولو اخته وه چي څه وخت وروسته دروازه ماتیدو ته نیږدی وه چی د شا د خوا څخه پر وسلوالو بړغ وسو چی ودریږی دوی چی کله ورته وکتل نو ویلیدل چی کوچنی زبیر وو خو وسلوالو ورته وویل: څه وایی؟

زبیر ورغلی او د دروازی ومخته ودریدی او وسلوالو ته یی وویل: تاسو دا زما د استاذ د کور دروازه ولی ورماتوی تاسو غله یاست؟

وسلوالو زبیر نه پیژندی چی دا د مشر جمال زوی دی او جمال د نورو وسلوالو سره په خبرو اخته وو د موسیٰ د کور خواته یی پام نه وو، بیا وسلوالو زبیر ته وویل: چپ سه احمقه او لیری سه زموږ د لارې څخه،

زبیر پر دوازه لاسونه نیولی وه او ویویل: نه لیری کیږم تاسو غله یاست زما د استاذ کورته ورځی او غلا کوی ته ورته وګوره اوس مو لا دا دی قلف ور مات کړیدی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسلوالو ته درد ورغلی او ورته یی وویل: په سمه درته وایو چی لیری سه زموږ د لارې څخه که نه نو د مځکی به دی راوولم،

زبیر وویل: زه هم په سمه درته وایم چی زما د استاذ د کوره څخه ولاړ سی که نه ډیر به مو ووهم او خلکو ته به ووایم چی دا غله دی، زبیر په لوړ اواز ناره کړه: ایی خلکو اله غله دی غله دی زما د استاذ کور غلا کوی،

وسلوالو ته درد ورغلی او غوښتل یی چی زبیر په چپلاخه ووهی چی په دی وخت کی د جمال ورته پام سو او پر وسلوالو یی ږغ وکړ او په درد سره یی ورته وویل: څه کیسه ده؟

وسلوالو وویل: مشره موږ تلاښی کوو دا کوچنی مو دا کورته نه پریږدی،

جمال ورته وویل: تاسو دی نه پیژنم چی دا زما زوی دی،

وسلوال حیران سول او د جمال څخه یی بخښنه وغوښته بیا جمال ورته وویل: پریږدی دا کور پریږدی دا زما د وراره کور دی ورسی نور کورونه تلاښی کړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې وسلوال د موسٰی له کوره روانیدل نو ډیر خوابدی سول په عینی حال کی زبیر هغو ته پیښې هم وکړی او زبیر لا هلته ولاړ وو جمال زبیر ته وویل: ما تاته نه دی ویلی چې د کوره مه راوځه یوازی د موسٰی استاذ سره درس ته ځه؟

زبیر وویل: زه د کور ومخته ولاړ وم دا خلک می ولیدل چې د استاذ د کوره یی غلا کول،

جمال موسکی سو او ویویل: دا غله نه دی زویه دا زما نفر دی،

زبیر وویل: بابا ته هم غل یی؟

جمال موسکی سو او بیرته پر خپل لار روان سو، څه وخت وروسته موسٰی کلی ته را ورسیدی ویلیدل چې ډیر رش او شور ماشور وو د یو کوچنی څخه یی پوښتنه وکړه چې دا څه پیښه وه هغه وویل چې وسلوال راغلی دی او په امریکایی عسکر پسی تلاښۍ کوی، موسٰی ډیر وارخطا او مخ یی تک سور سو او په ځغاسته د خپل کور پر طرف رهی سو کله چې خپل کور ته رسیدی نو جمال ولیدی چې موسٰی ډیر وارخطا دی او مخ یی تک سور سویدی جمال ورناره کړه: موسٰی! موسٰی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې موسٰی ورته وکتل نو جمال اشاره ورته وکړه چې دلته راسه کله چې موسٰی ورغلی نو جمال ورته وویل: موسٰی ولی داسی وارخطا یی او دا مخ دی ولی داسی سور سویدی؟

موسٰی په وارخطایی سره یوار خپل کورته وکتل او بیا یی جمال ته وویل: لمر زیات وو کاکا ستړی سوم،

جمال وویل: د چا سره خو به دی جنګ نه یی کړی؟

موسٰی یوار بیا خپل د کور خواته وکتل او بیا یی وویل: یا کاکا جنګ به ولی کوم،

جمال وویل: چیری تللی وی؟

موسٰی وویل: انا ته می دوا او د کور سودا راوړل،

جمال څه وخت موسٰی ته کتل خو موسٰی به څو څو وار خپل د کور خواته کتل بیا جمال وویل: زه خبر سوی یم چې ددی کلی یو سړی د یو ټپی امریکایی پوځی سره مرسته کړیده او هغه یی کلی ته راوستلی دی تا هغه پوځی یا هم هغه کس نه دی لیدلی؟

موسٰی وارخطا سو او بیا یی په بند اواز وویل: نه نه کاکا ما نه دی لیدلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمال بیا څه وخت موسٰی ته کتل او بیا یی ورته وویل: ورځه پر انا دې می سلامونه وایه،

وسلوال هم ټول راغلل او جمال ته یی وویل: مشره ټول کلی مو تلاښۍ کړ خو هیڅوک مو نکړ پیدا،

جمال ټولو وسلوالو ته وویل: درځئ موټرانو ته مو وخیږ ی،

موسٰی د خپل کور ومخته تیریدی خو د اکا له بیره خپل کورته نه ولاړی او سیده د انا کورته ولاړی خو د سترګو تر کونجانو یی کور ته کتل ویلیدل چی دروازه څه ناڅه ماته سوی وه موسٰی ډیر وارخطا سو کله چی وسلوال ولاړل نو په ځغاسته کور ته راغلی او دروازه یی خلاصه کړه ډیر وارخطا وو کله چی د لیزا خونۍ ته ور ننوتی لیزا هلته نه وه بیا بلی خونۍ ته ورغلی خو هلته هم نه وه کله چی د خاشو او لرګو خونۍ ته ورغلی نو ویلیدل چی لیزا هلته په یو کونج کی ډیره وارخطا ریږ.دیدونکۍ ناسته وه لیزا او موسٰی چی کله سره ولیدل نو ژر یی یو و بل په غیږ کی ټینګ سره ونیول او دواړو سره وژړل لیزا موسٰی ټینګ نیولی وو په غیږ کی او ژړل یی موسٰی هم لیزا ټینګه نیولۍ وه او ژړل یی ډیر وخت یی همداسی په غیږه کی سره نیولی وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو چی کله موسٰی څه ارام سو نو ځانته متوجی سو چی ما څنګه لیزا په غیږ کی ونیول نو یی پریښول او د لیزا څخه یی په غیږ کی د نیولو بخښنه وغوښته لیزا هم حیرانه سوه چی موسٰی ولی یو دم لیزا د غیږ څخه لیری کړه، وروسته موسٰی وویل: لیزا هر څه سم دی هغوی ولاړل،

لیزا هم ارامه سوه خو موسٰی چپه خوله د خونی څخه ووتی او لیزا یی یوازی پریښوول،

د لیزا د ناول کیسه تر دی ځایه پوری را ورسیدل د غونډی ګډونوالو د لیزا ناول ته ډیر په ځیروالی غوږ نیولی وو بیا لیزا وویل: زه پوهیدم چی موسٰی زما سره مینه کول او زما هم د هغه سره مینه پیدا سوی وه خو په دی هم پوهیدم چی هغه ماته ولی د مینی اظهار نسوای کولای ځکه چی هغه نه غوښتل چی زه دا ورته ووایم چی ته زما څخه د احسان بدله غواړی هغه ددي خبری څخه بیریدی خو ما به دا هیڅکله نه وای ورته ویلی ځکه چی هغه زما سره ریښتینی مینه کول ما ځکه نه ورته ویل چی که زه دده مینه جوړه سوی وای نو دی به د خپل کورنۍ څخه ډیر لیری سوی وای او د خپلی کورنۍ په ضد به دریدای ځکه چی د هغه اکا او نوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ بیله انا او زبیر ماسیوا زما دوښمنان وه ما د موسٰی سره مینه په زړه کی کول،

ماښام سو موسٰی تر درختی لاندی ناست او تر سترګو یی کرار کرار د غم اوښکې روانی وی لیزا د لیری ځایه څخه موسٰی لیدی چي هغه په غمو کی ډوب ناست وو او ژړل یی، څه وخت وروسته انا راغلل او د موسٰی پر سر یی لاس ورکښېښنوی موسٰی د هغې په لیدو ژر خپلې اوښکې پاکی کړی انا د موسٰی بغلته کښېنسته او بیا یی موسٰی ته وویل: ته ژاړی زویه؟

موسٰی وویل: نه انا جانې هغه می په سترګو کی دوړې ولویدی،

انا وویل: زویه ته بیا ماته درواغ وایی،

د موسٰی اوښکې لا پر مخ بهیدی خو انا ته یی وویل: نه انا جانۍ کومه خبره نه ده،

انا وویل: زه ستا په هر څه پوهیږم زویه او په دی هم پوهیږم چی دا اوښکې د مینی اوښکې دی او هغه هم په لیزا پسی بهیږی،

موسٰی خپل غم او اوښکې کنټرول نسوای کړای نو په ژړا د انا په غیږ کی ور ولوید او ډیر یی وژړل او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی په ژړا وویل: انا زه د لیزا سره ډیره مینه کوم ډیره مینه کوم،

لیزا د لیری ښخه موسٰی او انا ته کتل د هغو په ژبه نه پوهیدل خو مطلب یی ځنی اخیستی چی دوی ښه وایی نو ځکه د لیزا تر سترګو هم اوښکې بهیدلی، بیا انا وویل: زویه ته هغی ته ووایه که هغی در سره ومنل نو تاسو واده سره وکی،

موسٰی وویل: انا زه لیزا ته د مینی نسم ویلای او نه هم دلته خوشحاله ژوند ورکولای سم هره ورځ به مو داسی په بیره او خطر کی تیریږی لکه نن ورځ،

انا وویل: زویه په مینه کی خو دا سختی وی نو او مینان په دی هیڅ پروا هم نکوی زه ورځم او همدا اوس لیزا ته وایم چی ستا سره واده وکی،

انا غوښتل چی د لیزا پر طرف ورسی خو موسٰی د هغی لاس ونیوی او ورته یی وویل: نه انا زه فکر نکوم چی لیزا دی زما سره مینه کوی او نه غواړم چی لیزا زما په اړه غلط فکر وکی نو هیله کوم انا مه ورځه،

انا بیرته ودریدل او موسٰی یی پر تندي ښکول کړ او ویژړل بیا یی وویل: زویه خدای پاک ستا ښخه ستا تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو لویه خوشحالي ستا مور او پلار واخیستل د هغې ورځې راهیسې چې ستا هر خواهیش دی الله زما په سبب در پوره کړیدی تر خپلو ټولو اولادو راباندې ګران یې خو نن چې تا زه په دې حالت کې وینم دا نسم زغملای ته به تر څو څو داسې یې؟

موسٰی په ژړا وویل: انا کله چې لیزا کورته ولاړه سی نو څه وخت وروسته به مې ټوله هیر سي،

انا وویل: زویه دا ناممکینه ده ستا لپاره زه چې تاته ګورم دا درته وایم چې ته به هیڅکله هغه نکې هیره،

موسٰی وویل: نه انا زه ډیر کوښښ کوم چې هیره یې کم،

انا وویل: سمده زویه څنګه چې ستا خوښه وی هم هغسې وکه،

وروسته انا د خپل کور پر طرف رهی سول او موسٰی لا هلته تر درختې لاندی ناست وو نیمه شپه سوی وه او موسٰی پر همهغه ځای بیده سوی وو خو لیزا لا ویښه وه کله چې لیزا د موسٰی طرف ته وکتل نو ویلیدل چې هغه بیده سوی وو او تر سترګو یې اوښکې بهیدلې وې نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیزا نیږدی ورغلل او ورته یی وویل: موسٰی! موسٰی! راځه پر کټ دی بیده سه،

خو موسٰی په خوب کی غرق سوی وو او ولاړیدای نسوای لیزا د هغه تر اوږی لاندی سوه او موسٰی یی راپورته کړ تر څو خپل خونی ته یی بوځی موسٰی د خوبه وو او په ځان نه پوهیدی لیزا هغه د خونی پر طرف روان کړی وو موسٰی د خوبه وویل: لیزا زه ستا سره ډیره ډیره مینه کوم خو دا بدبخته ژوند مو نه سره یو ځای کوی،

لیزا موسکی سوه خو څه یی ونه ویل او د خونی پر طرف روان وه موسٰی تر خونی پوری همدا ویل چی لیزا زه مینه در سره کوم لیزا زه مینه در سره کوم، کله چی کټ ته ورسیدل نو لیزا موسٰی پر خپل کټ پریستی موسٰی وویل: لیزا ته خو به ما یوازی نه پریږدی هیله کوم ما یوازی مه پریږده هیله کوم؟

د لیزا تر سترګو اوښکې راغلی د موسٰی لاس یی په لاس کی ونیوی او ویویل: سمده نه دی پریږدم،

وروسته موسٰی بیده سو لیزا غوښتل خپل ځای ته ولاړه سی خو موسٰی د هغی لاس په خپل لاس کی ټینګ نیولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو او بیده سوی وو لیزا هم د موسٰی پر کټ سر کښیښوی او بیده سوه،

د سهار اذانونه شروع سوه لیزا د خوبه راکښینستل او پر موسٰی یی هم ږغ وکړ کله چی موسٰی راکښینستی نو حیران سو او لیزا ته یی وویل: لیزا زه خو ماښام د درختیٔ سره ناست وم او هلته بیده سوی وم نو بیا دلته څنګه راغلم؟

لیزا وویل: ما راوستلی؟

موسٰی وویل: رښتیا؟

لیزا وویل: رښتیا وایم،

بیا موسٰی وویل: مننه خو ته به راسره ډیره په تکلیف سویٔ یی،

لیزا وویل: نه نه هیڅ تکلیف نه وو،

وروسته موسٰی د سهار د لمانځه په طرف رهی سو،

وسلوالو جمال ته وویل: مشره جالبه ده هغه امریکایی پوځی هتماً ستاسو کلی ته تللی دی خو څنګه نه سو پیدا په مځکه خو هم نه دی ننوتلی هتماً یو چا یو ځای پټ کړیدی خو ددی کلی څخه نه دی وتلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمال په فکر کی ډوب وو او بیا یی موسٰی ذهن ته راغلی فکر یی وکړ چی موسٰی ولی په هغه ورځ ډیر وارخطا وو او د خپل کور وخواته یی ولی ډیر ډیر کتل بیا یی د وسلوال هغه خبره ورياد سوه چی ویلی وه چی مشره د هغه نفر سره چی دا امریکایی یی د ځان سره بیولی دی یو کوچنی هم مرسته کړیده بیا یی زبیر ته پام سو چی په هغه ورځ یی د موسٰی کورته وسلوال نه پریښوول د جمال شک پر دی سو چی موسٰی به د هغه امریکایی سره مرسته کړی یی،

څو ورځې تیری سوی جمال به هره ورځ خپل کورته راتلی کله چی به کور ته ننوتی نو د سترګو تر کونجانو به یی د موسٰی کورته کتل یوه ورځ موسٰی ورته متوجی سو او فکر یی سو چی جمال کاکا څنګه اوس هره ورځ خپل کورته راځی او ولی زما د کور وخواته د سترګو تر کونجانو ګوری نو فکر یی پر دی سی چی جمال کاکا یی پر ده شکی سویدی چی ده د هغه پوځی سره مرسته کړیده د جمال هم ۷۰٪ فیصده یقین پر دی سو چی همدا موسٰی وو چی د هغه پوځی مرسته یی کړیده، موسٰی و لیزا ته وویل: لیزا زما اکا پر ما شکمن سویدی چی ما ته د دوی څخه ژغورلې یی ته زما سره راځه د انا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورته به ولاړ سو هلته بیا کاکا د انا ومخته په ما او تا هیڅ نسی کوای ته به هلته پټه سی تر یوی اوونیه به هلته یی وروسته زما یو ملګری د ښار څخه موټر راولی بیا به دی زه په هغه موټر کی خپل اډی ته بوځم،

لیزا په ناخوښی سره ورته وویل: سمده،

وروسته موسٰی او لیزا د انا کورته ولاړل او انا ته یی ټوله کیسه وکړه چی کاکا راباندی شکی سویدی انا هم لیزا د خپل ځان سره وساتل،

څو ورځې تیری سوی موسٰی په خپل کور کی یوازی اوسیدی او لیزا د انا سره اوسیدل څه وخت وروسته موسٰی د سهار د جوماته راغلی کورته او تلاوت یی کاوه چي په دی وخت کی   د کور دروازه ماته سوه او مخ پټي وسلوال را ننوتل کورته او د موسٰی لاسونه یی د شاه لخوا ور وتړل او ټول کور یی تلاښی کړ موسٰی یی ډیر ووهی لیزا مخ پټ کړی وو او پر بام ولاړه وه چی وسلوال یی ولیدل چی موسٰی وهی لیزا ډیر وژړل خو هیڅ یی نسوای کولای وسلوالو موسٰی تر وهلو وروسته د موټر شاته وغورځوی او د ځان سره یی بوتلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیزا د بام له سره ژر انا ته راغلل او انا ته یی په ژړا وویل چې موسٰی یی ووهلی او وسلوالو بوتلی، انا ډیره وارخطا سوه خو د لیزا په خبرو پوه نسوه بیا لیزا په اشاره انا ته وویل چې موسٰی یی ټینګ ووهلی او وسلوالو د ځانه سره یوړ، انا په ځغاسته دباندی راووتل چې ویکتل وسلوال لیری معلومیدل او روان وه د موسٰی کورته چې یی وکتل نو ویلیدل چې دروازه یی ماته سوی وه،

وسلوالو موسٰی خپل مرکز ته راوستی او پر یو چوکۍ یی وتړی او وروسته یی سترګی ور خلاصی کړی وصال ولیدل چې هغو زبیر هم پر یو چوکی کښینولی وو بیا جمال د موسٰی مخته راغلی او ورته یی وویل: موسٰی په هغه ورځ موږ په کلی کی علان وکی که هر چا د هغه کافر سره مرسته کړی وی موږ هغه ژوندی نه پریږدو زه پوهیږم چې تا د هغه سره مرسته کړیده راته ووایه هغه چیری دی؟

موسٰی وویل: کم کافر زه نه یم په خبر،

جمال وویل: موسٰی موږ چې دلته څوک په یو تور راولو هغه به هتماً موږ ته رښتیا وایی که نه دومره به یی وډبوو دومره به یی وډبوو چې بیابه د هغه یو هډوکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم روغ نسی پاته که څه هم هغه زموږ خپل اولادونه یا هم د کورنۍ غړی وی نو اوس راته ووایه چی هغه امریکایی پوځی چیری دی؟

موسٰی وویل: زه نه یم په خبر کاکا چی هغه چیری دی،

جمال بیا وویل: موسٰی زه اخیری واری درته وایم راته ووایه چی هغه چیری دی که نه بیابه دوی دومره شکنجه درکی چی بیابه په ژوند نسی سم نو هله راته ووایه چی هغه پوځی چیری دی؟

موسٰی وویل: کاکا زه نه یم په خبر خو درته ومی ویل،

جمال نورو وسلوالو ته امر وکی چی وهل پر شروع کړی او تر هغه وخته یی وهی چی حال درته وایی،

هغو وویل: سمده مشره،

بیا وسلوالو د موسٰی په وهلو شروع وکړه او ډیر سخت یی ووهه زبیر د موسٰی پر خوا ور وځغستل خو جمال تر لاس ټینګ کړ زبیر هغه وسلوالو ته ور ناره کړه: ای خره ای خره زما استاذ مه وهه ای خره، جمال هغه ته پر مخ چکه وکړه او ورته یی وویل چی چپ سه خو زبیر نه چپ کیدی او د موسٰی پر طرف یی ور ځغستل بیا جمال زبیر هم پر چوکی وتړی وسلوالو لا موسٰی

(c) ketabton.com: The Digital Library

واهه خو موسٰی هیڅ هم نه ویل وسلوالو موسٰی ډیر ووهلی او وهلو ته یی داغسی ادامه ورکړی وه خو موسٰی هیڅ نه ویل بیا جمال وویل: تاسو ودریږی، هغوی ودریدل جمال زبیر ته وویل: زبیره زویه ته غواړی چی استاذ دی خلاص کو؟

زبیر وویل: هو هغه ایله کی،

جمال وویل: نو زویه ته راتهووایه تا او استاذ هغه امریکایی عسکر راوستی کورته؟

زبیر ته د موسٰی هغه خبره ور یاد سوه چی د عسکر خاله په بارکی چاته مه وایه نو یی پلار ته په درد وویل: یا موږ نه دی راوستلی،

جمال وویل: نو خو بیا دی دوی استاذ وهی که ته نه راته وایی راته ووایه نو چی هغه امریکایی عسکر اوس چیری دی؟

زبیر بیا پلار ته په درد وویل: بی عقله نه می درته وویل چی نه یم په خبر نو نه یم په خبر،،

جمال وسلوالو ته وویل: راسی زبیر هم ووهی او دومره یی ووهی چی حال درته وایی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسٰی ډیر حیران سو او وسلوال د زبیر پر طرف ور رهی سول چی هغه ووهی هغو زبیر هم ووهه کله چی زبیر په ژړا سو نو موسٰی د هغه ژړا ونسوای زغملای ځکه چی هغه به هر وار موسٰی ته ناری ور وهلی استاذه! استاذه! استاذه! موسٰی د زبیر ژړا او وهل ونسوای زغملای نو یی وویل: هو هو ما د هغه سره مرسته کړیده،

جمال موسٰی ته نیږدی سو او ویویل: ډیر ښه خو اول به دی راته ویلی وای ایا تا د هغه سره مرسته وکړه او ودی ژغوری؟

موسٰی وویل: هو ما وژغوری هغه،

جمال وویل: راته ووایه هغه چیری دی اوس هغه موږ ته را وښیه،

موسٰی وویل: کاکا چي ټوټه ټوټه می کوی لا به یی هم در ونه ښیم تاسو وحشیانو ته،

جمال ته ډیر درد ورغلی او موسٰی یی پر مخ یو ټینګه چپلاخه ووهه او په درد سره یی ورته وویل: بی عقله ته موږ ته وحشیان وایی تا چي په ښار کی درسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل ته یی هلته اړولی یی ته نه یی خبر چی موږ .....کوو،

موسٰی وخندل او ویویل:تاسو ..................................... نوټ: د موسٰی او جمال تر منځ مناظره د سیاسی احتیاط په خاطر لیری کړل سوه ...............................................،

د موسٰی خبرو لا هم داسی جریان درلودی ټول وسلوال چپ ولاړ وه ځکه د دوی سره د موسٰی د خبرو جواب نه وو په دی وخت کی مرکز ته انا را ورسیدل خو وسلوالو په دروازه کی انا ته جواب نه ورکوی انا هغه ټینګ پر مخ په چپلاخه ووهه او ولاړل مرکز ته ننوتل کله چی یی موسٰی ولیدی چی هغو ټینګ وهلی دی نو ورغلل او ژر یی لاسونه ور خلاص کړل او بیا جمال ته ورغلل او ټینګه چپلاخه یی پر مخ ووهه او ورته یی وویل: د بی عقل زوو! یو یتیم هلک څوک دومره وهی لاسونه مو مات نسوه لږ دی دا مړو سترګو ته ورور او ورینداره نه ودریدل،

جمال وویل: مور ته نه یی خبره چی ده ...

انا وویل: چپ سه بله خبره لا ونه کړ که نه دا ژبه به دی په دا بیخ کی در څخه پری کم تاسو دی دلته په کم

(c) ketabton.com: The Digital Library

تور راوستلی دی په داغه تور چی ده د یو مظلوم ټپی سره مرسته کړیده،

جمال وویل: مور دا مظلومان نه دی دا زموږ دوښمنان دی،

انا وویل: هغو چي څومره دا هیواد خراب کی تر هغه لس چنده تاسو خراب کی کم ماینونه او بمونه چی ستاسو په لاس ښخ سویدی په هغو کی تر دوی زیات زموږ عام خلک شهیدان سول تا خو د خپل وروړ او ورینداری د مرګه هم عبرت وانه خیستی د هغو ګناه څه وه ایا هغه هم کفار وه؟ بی عقلانو تاسو خو پر عام ولس ژوند حرام کړیدی حکومت یی جلا پر سر وهی تاسو یی جلا پر سر وهي،

انا موسٰی تر لاس ونیوی او ولاړل هیچا هیڅ نسوای ورته ویلای جمال وسلوالو ته وویل:موسٰی څاری،

کله چی موسٰی او انا کورته راغلل لیزا چی کله موسٰی ولیدی نو زیات یی پر وژړل بیا انا موسٰی ته وویل: زویه نور نو وخت سویدی چی باید لیزا تر خپلو ملګرو ور ورسوی دیته ووایه چی دوی ورځی وروسته چی ته کله سم سی نو دا به تر خپلو ملګرو ورسوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسٰی وویل: انا لار ډیر خطرناکه ده په هر ځای کی د ماینو خطر سته،

انا وویل: زویه د لیزا ژوند دلته په خطر کی دی الله مهربان دی هغه مو ساتندویه دی،

موسٰی لیزا ته وویل: لیزا انا وایی چی زه باید تا نوره تر خپلو ملګرو ورسوم دوې ورځې وروسته به موږ روان سو ته دې ځان تیاروه،

لیزا په ناخوښه خوله وویل: سمده،

انا د موسٰی زخمونه ور پانسمان کول او د زخمو په لیدو به یی ژړل موسٰی و انا ته وکتل او انا یی په غیږ کی ونیول او ویویل: انا ته ولی ژاړی؟

انا وویل: زویه دا اول وار دی چی ستا پر بدن دومره زخمونه وینم ستا مور او پلار به څومره په تا زهیریږی،

موسٰی وویل: انا زه دي زخمو دومره نه کړم زخمی لکه څومره چی د جمال کاکا خبرو زخمی کړم هغه پردو کسانو ته زما د وهلو وویل ما خو پریږده د کاکا څخه دومره ظالم جوړ سویدی چی هغه پر خپل زوی هم رحم ونه کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مابنام سو لیزا پر کټ ناسته وه او ژړل یې موسٰی ورغلی او ورته یې وویل: لیزا څه خبره ده ولې ژاړې؟

لیزا وویل: زما په سبب تاته دومره غمونه ورسیدل زما په سبب ستا او د اکا په مینځ کی مو خوابدتیا راغله،

موسٰی د لیزا د سترګو څخه په خپل لاس اوښکې پاکی کړی او ویویل: لیزا ته زما په سبب هیڅکله خپل ځان مه ملامتوه په دی سره زه زیات په تکلیف کی کیږم او بل دا چی دا زموږ دینی او دستوری وظیفه ده چی باید د مظلوم ساتنه وکړو زه پوهیږم چی ته د غریبی په وجه دلته راغلی وې لیزا ته زما سره وعده وکه چی ته به ما هیڅکله نه هیروی،

لیزا وویل: موسٰی زه به هر څه هیر کم خو تا به هیڅکله هیر نه کم،

موسٰی وویل: لیزا کله چی ما درته وویل چی دوې ورځې وروسته به زه تا تر خپلو ملګرو ورسوم نو ته خوشحاله نسوی معلومه؟

لیزا وویل: موسٰی زه اوس ددی ځای سره عادت سوی یم ددی ځای د ښکلی هوا او ښکلی دود دستور او خلکو تر تاثیر لاندی راغلی یم او اوس دا زما لپاره تر ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحالترینه ځای دی کله چی اول وار راتلم نو تاسو او دا خلک راته ټول ترهګر او وحشیان معلومیدل نه یوازی ما بلکی امریکا کی ټول خلک دا فکر کوی چی د مسلمانانو د هیوادو خلک وحشیان دی ټول ترهګر دی خو چی دلته راغلم هر څه راته معلومه سوه چی څو بدو کسانو د ټولو مسلمانانو رنګ ور بد کړیدی او هغوی یی نړی ته ترهګر معرفي کړيدي خو اصل کی داسی نه ده او دا ماته دلته جوته سوه ستاسو هیواد ډیر ښکلی ځای دی دلته هر ځای ډیره مینه ده نو ځکه می زړه نه غواړی چی ولاړه سم،

موسٰی موسکی سو او ویویل: لیزا دلته ستا ژوند په خطر کی دی ته به هیڅکله هم خوشحالی ونه وینی نو ځکه انا وویل چی زه باید تا ژر تر ژره خپلو ملګرو ته ورسوم ته چی هر ځای یی او خوشحاله یی نو موږ به هم خوشحاله یو،

دوې ورځې تیری سوی او د لیزا د تلو ورځ را ورسیدل موسٰی و لیزا ته وویل: لیزا ته دې خپل دریشی واغونده،

لیزا وویل:ولی؟

موسٰی وویل: کله چی ته خپلو ملګرو ته ورځی نو هغوی به تا ژر وپیژنی هسی نه هغوی د لیری څخه دا فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړی چی دا نابلده څوک دی او کوم بد عکس العمل ونه ښیی،

لیزا هم خپل دریشی واغوستل او د انا څخه یی خدای په امانی واخیستی کله چی د انا څخه روانیدل نو انا یی ټینګه په غیږ کی ونیول او ویژړل وروسته انا خپل یو حجاب ورکړ او لیزا یی پکښی پټه کړه انا و موسٰی ته وویل: موسٰی زویه لیزا تر خپلو ملګرو سلامته ورسوه ځان مړ که خو چی څوک لیزا ته لاس هم در څخه ور نه وړی، موسٰی وویل: سمده انا جانی، لیزا او موسٰی پر موټرسیکل سپاره سول او روان سول تر خپل کلی ووتل موسٰی خپل موټرسیکل ډیر ځغلوی لیزا موسٰی ټینګ نیولی وو او د موسٰی پر اوږه یی سر کښیښوی موسٰی ډیر د ارامتیا او مینی احساس وکړ کله چی څه مخته ولاړل نو یو چا رسۍ د موټرسیکل ټایر ته پورته کړل په دی سره لیزا او موسٰی دواړه پر مځکه وغورځیدل موسٰی سخت ټپی سو خو خپل ځان یی هیر سو او ژر د لیزا پر طرف ور روان سو کله چی هغې ته رسیدی نو د شا لخوا یو چا په توپک ووهه په دی سره موسٰی پر مځکه ولویدی خو بیا یی هم د لیزا و طرف ته ور وځغستل کله چی هغې ته ور ورسیدی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی په غیږ کی ونیول څه وخت وروسته توپکوالو دوی دواړه محاصره کړه لاسونه او سترګی یی ور وتړل او روان یی کړل څو وخت وروسته یو ځای ته ورسیدل کله چی یی سترګی ور خلاصی کړی نو بیا یی د جمال و ځای ته را وستلی وه ټولو مبارکی سره ورکولی چی امریکایی پوځی مو ونیول لیزا ډیر ژړل کله چی موسیٰ د هغې سترګو ته وکتل نو د هغې مظلومانه څیهرۍ په جوش راوستی او په زور سره یی د خپل لاسو رسۍ پریکړه او پر وسلوالو یی ور وځغستل او د هغو په وهلو یی شروع وکړه ټول ور سره جنګیدل او هغوی یی ډیر ووهل کله چی اکا ته ورسیدی نو غوښتل یی چی هغه هم ووهی خو د هغه د مشرتوب لکبله یی بیرته خپل لاس ونیوی جمال وویل: ونیسه ومی وهه ولی ودریدی؟

جمال موسیٰ پوری وهی او په زوره یی ورته وویل: ونیسه ومی وهه وام،

جمال د لیزا پر طرف ور رهی سو او هغه یی په زور تر لاسو ونیول او پوری یی وهل او د موسیٰ پر طرف یی وکتل او ویویل: ددی په خاطر ته زموږ سره جنګیږی د خپل اکا سره؟ جمال بیا د لیزا پر طرف ور رهی سو غوښتل یی چی بیا په هغې یو څه وکړی خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چی لیزا ته رسیدی نو موسٰی پر ور وځغستل او جمال یی په زوره لیری پوری وهی او په غوسه یی ورته وویل: پام چی دیته لاس هم ور نه وړی،

ټولو وسلوالو د موسٰی پر طرف ور وځغستل غوښتل یی چی هغه ووهی خو جمال ورته وویل: ودریږئ!!!!!

ټول ودریدل جمال په غوسه سره د موسٰی پر طرف ور وځغستل او هغه یی ووهی موسٰی پر مځکه ولویدی او بیرته را ولاړ سو جمال بیا پر راغلی او موسٰی یی بیا پر مخ په سوک ووهی موسٰی ورته وویل: ګوره کاکا د مشرتوب احترام دی کوم ما دیته مه مجبوره کوه چی زه هم لاس دربا‌ندی پورته کم،

جمال بیا هغه ته سوک ورکړ او په درد سره یی ورته وویل: ونیسه ومی وهه ونیسه ومی وهه ونیسه ونیسه،

جمال بیا سوک ورکړ خو موسٰی ورته وویل: کاکا ما مجبوره کوه چی لاس دربا‌ندی پورته کم،

جمال خپلو وهلو ته ادامه ورکړه غوښتل یی چی موسٰی ووهی خو موسٰی د هغه سوک ونیوی او موسٰی جمال ته پر مخ سوک ورکړ او پوری وهی یی کله چی د موسٰی او د جمال حملی سره شروع سوی نو لیزا ورغلل

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دواړو په مینځ کی یی ځان ور واچوی او ویویل: ودریږئ! ودریږئ! ودریږئ!

موسٰی او جمال ودریدل بیا لیزا په ژړا جمال ته وویل: زما په سبب تاسو اکا او وراره په جنګ سره ولویدلاست، بیا لیزا جمال ته وویل: ایا ته زما وژل غواړی نو ونیسه ومی وژنه،

جمال د خپل وسلوال څخه توپنچه واخیستل او ویویل: هو هو زه غواړم تا ووژنم،

کله چی جمال پر لیزا توپنچه نیول په دی وخت کی موسٰی د جمال د لاس څخه توپنچه حمله کړه او د جمال پر سر یی ور ونیول او دا نورو وسلوالو ته یی وویل: ټول پر خپل ځای ودریږئ! هغوي ټول ودریدل بیا موسٰی ورته وویل: وسلې مو پر مځکه وغورځوئ، هغوی نه غورځولئ جمال ورته وویل: وسلې می پر مځکه کښیږدئ، هغوی ټولو خپلي وسلې پر مځکه کښیښولی بیا موسٰی لیزا ته وویل: لیزا درځه دباندی در ووځه، موسٰی د جمال پر سر توپنچه ورنیولی وه او دباندی ووتل وروسته د وسلوالو په موټر کی کښینستل او جمال یی لیری پوری وهی او دوی وځغستل وسلوال هم ژر ژر خپلو موټرانو ته وختل او په دوی پسی روان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سول د شا له خوا يې په موسٰی او ليزا پسې ټکان کول تر ډير مزل وروسته د سړک د غاړی د پوليسو پوسته راورسيدل ليزا ډيره خوشحاله سوه او موسٰی ته يې وويل: موسٰی! موسٰی هلته وګوره د پوليسو پوسته ده موږ به د هغو څخه مرسته وغواړو،

موسٰی وويل: ليزا هغوی دا مهال نشه وی زموږ سره هيڅ مرسته نسی کولای،

ليزا ډيره حيرانه سول د موسٰی او ليزا موټر تر پوسته تير سو جمال او د هغه کسانو د شا لخوا په پسې وه او ټکان يې پسې کول کله چې هغوی هم تر پوسته تير سول نو يو پوليس راووتی او ناره يې کړه: ايی دا ډبرې څوک غورځوی که د نر زامن ياست مخته راسی نو تاسو ډبری ولی غورځوی،

وسلوالو تر ډيره ځايه پوری په موسٰی پسې ټکان کول وروسته د کندهار هوايی ډګر ته نيږدی سول وسلوالو جمال ته وويل: مشره موږ نور مخته نسو تلای بيا مو د امريکايانو دستګاوی کشفوی،

جمال ته ډير درد ورغلی او ويويل: سمده درځی موټران بيرته راوګرځوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسلوال بیرته وګرځیدل کله چی موسٰی او لیزا شاته وکتل چی وسلوال بیرته وګرځیدل نو په زوره زوره یی وخندل او ډیر خوشحاله سول موسٰی د امریکایی اډې څخه لیری موټر ودروی او لیزا ته یی وویل: لیزا نور نو ستاسو اډه نیږدی ده که نور هم مخته ورغلو نو هغوی به د وسلوالو فکر راباندی وکی او ټکان به راباندی وکی نو موږ باید نور په پښو ولاړ سو، لیزا وویل: سمده راځه،

موسٰی او لیزا په پښو روان سول موسٰی د لیزا سره تر نیمایی لاری ولاړی او بیا ودریدی لیزا حیرانه سول او ویویل: موسٰی ولی ودریدی؟

موسٰی موسکی سو او ویویل: لیزا نور نو ته خپلو ملګرو او کورنۍ ته دی ورسه،

لیزا وویل: نو ته زما سره نه ځی؟

موسٰی موسکی سو او ویویل: نه لیزا زما وظیفه وه چی زه باید تا تر خپلو ملګرو ورسوم هغه وظیفه ما سرته ورسول نور نو زه پر خپله لار ځم،

لیزا حیرانه سوه او ویویل: موسٰی خو هغوی به تا ژوندی نه پریږدی هغوی به تا مړ کی زه تا نه پریږدم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته به زما سره ځی زه خپلو مشرانو ته وایم چی ستا ژوند دلته په خطر کی دی ته باید زما سره ولاړ سی،

موسٰی وویل: نه لیزا دا زما هیواد دی دلته زه پیدا سوی یم او دلته به مړ کیږم زه می هیواد یوازی نه پریږدم که څه هم هر څومره خطر وی،

لیزا وویل: هیله کوم زما سره ولاړ سه موسٰی موږ به هلته خوشحاله ژوند ولرو،

موسٰی وویل: لیزا چی ته هر ځای خوشحاله یی لکه زه چی خوشحاله یم خو زه خپل هیواد نه پریږدم ځکه هیواد مور ده او د مور خدمت پر موږ فرض دی،

د لیزا ناول تر دی ځایه راورسیدی او بیا لیزا د غونډی ګډونوالو ته وویل:ما فکر وکړ چی زه به یو وار خپلو ملګرو ته ورسم او د هغو سره به د موسٰی د وفاداری په هکله وږغیږم هغوی چی کله د موسٰی د وفاداری واوری نو موسٰی به قبول کړی وروسته به زه موسٰی ته ورسم او هغه ته به ووایم چی زه د هغه سره مینه کوم او غواړم چی واده ور سره وکم نو هغه به راضی سی او زما سره به دلته امریکا ته راسی او موږ به یو خوشحاله کورنۍ جوړه کړو، لیزا و موسی ته وویل: سمده څنګه چی ستا خوښه وی خو ته صبر وکه چی زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو وار خپلو ملګرو ته ورسم وروسته بیرته د خدای په امانی لپاره راځم،

موسٰی وویل: سمده ورسه زه دلته انتظار یم در ته،

لیزا د خپل اډې پر طرف ور رهی سول هغو ته یی د لیری څخه په اشارو ځان ور معرفی کړ کله چی هغو په ذربین کی ورته وکتل نو ویپیژندل چی دا زموږ پوځی ده، کله چی هغوی لیزا وپیژندل نو موسٰی ډیر خوشحاله سو او ویخندل، کله چی لیزا د اډې ګیټ ته ور ورسیدل نو زیات مشران یی هرکلی ته راووتل لیزا د هغو سره تر روغبړ وروسته د موسٰی په هکله ټوله کیسه ورته وکړه هغو ور سره ومنل لیزا ډیره خوشحاله سوه مشرانو د لیزا څخه وغوښتل چی موسٰی دننه اډې ته راولی لیزا د هغو څخه مننه وکړه او په خوشحالی د موسٰی پر طرف رهی سول او د ځان سره یی د مینی اظهار تکراروی،

موسٰی غوښتل چی د لیزا و طرف ته ور نیږدی سی نو د هغې پر طرف ور روان سو کله چی یی قدم مخته کښیښوی نو تر پښو لاندی یی د یو شی بږغ سو، لیزا هم د موسٰی پر طرف را روان وه او د ځان سره یی د مینی اظهار تکراروی کله چی یی د موسٰی طرف ته وکتل نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ورته د لاسو اشاری کولی چی مه راځه مه راځه مه راځه لیزا ډیره حیرانه سوه او پر ځای ودریدل او د یو پوځی ځخه یی ذربین وغوښتی کله چی هغه ورکی نو لیزا د موسٰی طرف ته وکتل هغه لاسونه ورته ښورول چی مه راځه مه راځه لیزا حیرانه وه چی موسٰی ولی دې ته وایی چی مه راځه کله چی یی د موسٰی پښی ته وکتل نو د موسٰی پښه پر یو زوړ بم (ماین) پرته وه د لیزا سترګی راوڅتلی او ډیره حیرانه سوه،، ما د هغه پر طرف ور وځغستل غوښتل می چی دواړه یو ځای مړه سو خو هغه بی وفا نه غوښتل چی زه دی ور سره مړه سم کله چی زه هغه ته ور رهی سوم نو هغه ماته موسکی سو او خپله پښه یی د بم ځخه لیری کړه او هغه ناځوانه بم زما ځخه زما موسٰی واخیستی او زه یوازی پاته سوم هغه زما د مینی اظهار هم نه واوریدی او ولاړی هغه چی کله مړ کی دی نو خندل یی ځکه چی هغه زه تر خپلو ملګرو او کورنیه پخیر ورسولم زه خپل ځان ډیر ملامتوم ځکه چی هغه زما لکبله خپل ژوند قربان کړ او هغه زما لکبله مړ سو ما د موسٰی غم ونسوای زغملای او پر هغه ځای می ټول کنټرول د لاسه ورکړ زه ځو ورځې وروسته په سد کی راغلم او هلته کندهار کی بیستر وم کله چی څه سمه سوم نو بیرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل هیواد ته رالم، د لیزا ناول خلاص سو د ټولو میلمنو او لیکوالانو د سترګو څخه د اوښکو ویالې روانی وی بیا لیزا وویل: موسیٰ ما ته ډیر ښه راکړه خو ما هغه ته هیڅ هم نه کړه ور خو یو کوچنی ډالی می هغه ته ورکړه چی زه به تل د هغه په نوم ژوند کوم زه به هیڅکله واده ونکم اصل کی خو ټول افغانان او کندهاریان اتلان وه خو موسیٰ زما اتل وو،

ټولو ګډونوالو او میلمنو چکچکی وکړلی او لیزا یی ډیره وستایل او د کندهار اتل ناول نور هم یو نړیوال ناول سو،

څه عشق دی محبت دی خو تنهــایی ده
ستا نه لیری ای دلبره زما دنیا فانـــی ده
شپه ورځ پسی ژړیږم خو زه یی هیر یم
د عشق خو بس دغه لویه ناځوانــــــی ده
کرار راکړی ربه زما غمګین زړګی ته
بیله یاره می ژوند نه ستومانـــــــــی ده
زه بارک د یار لیدو پسی به مړ ســــــم
خلکو وایست چی سبب ددی عاشقـــی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکوال په اړه

نیک محمد بارک موسوي د محمد عیسی موسوي زوی او د موسی جان لمسی دی چې په ۱۳۷۹ه ش کال کې یې د کندهار په ولایت کې دې دنیا ته تشریف راوړ. اسلامي زده کړې یې د کندهار په بیلا بیلو مدرسو کې زده کړې او په دولس کلنۍ کې یې د قرانکریم د قاریتوب سند تر لاسه کې لومړنی عصري زده کړې یې د حاجي میرویس خان نیکه په عالي لیسه کې پای ته رسولي او په ۱۳۹۷ کال کې د کانکور په ازموینه کې د کندهار پوهنتون د انجینرۍ پوهنځی ته کامیاب سو چې د څه ستونزو لکبله یې ونسوای کوالی چې نوموړې پوهنځی ته ادامه ورکړی چې بیا یې د عالي زده کړو لپاره د نرسنګ انسټیټوټ ته امتحان ورکړ او په ښو نمرو نوموړی رشتې ته انتخاب سو چې فعلن د نوموړی انسټیټوټ د پنځم سمیسټر محصل دی. نوموړی اوس ۲۰ کلن او مجرد دی تر ټولو لوی ارمان یې وطن او خپلې مورنۍ ژبې ته نه ستړې کیدونکې خدمت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لیکوال نور کتابونه

1. ښځه په اسلام او غرب کې
2. د نیکیو سمندر
3. حیثیت ناول
4. عاشقی ناول

---

## راتلونکی کتابونه

1. عاشقی ۲ ناول
2. عشق ناول
3. بلاک واټر ناول
4. د عمر بن عبدالعزیز ناول
5. خالد بن ولد ناول

......................................

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**